ریښتینولي، روڼتیا او حساب ورکونه

NATO OTAN **Building Integrity**

مأخذ تعلیمی نصاب



# په دفاعي او اړونده امنیتی سکتور کې ښه حکومتولي او صداقت جوړونه

## د ناټو د صداقت جوړونې د ښوونې او روزنې دسپلین

# په دفاعي او اړونده امنيتی سکتور کې
# ښه حکومتولي او صداقت جوړونه

د ناټو د صداقت جوړونې د ښوونې او روزنې دسپلین

# سریزه

«د مشرتوب ترټولو لوړ کیفیت بې له شکه ریښتنولي ده.
پرته له دې حقیقي بریالیتوب امکان نلري، مهمه نده چې دا
د یوې ډلې، د فوټبال په ډګر، په اردو، یا په دفتر کې وي.»

دوایت د. آیزنهاور

مونږ په ناټو کې دمتحدو ځواکونو د لومړي اعلی قوماندان میراث پرمخ وړو او د خپلو کړنو په هسته کې ریښتینولي راوړو.



په دفاعي سکتور کې د اداري فساد د خطر او په دفاعي بودجې، عامه باورتیا او عملیاتي اغیزمنتیا باندې د هغه د اغیزې د مخنیوي لپاره زمونږ چلند صداقت جوړونه ده. مونږ پوهیږو چې اداري فساد و امنیت یوبل سره تړلي دي او په دفاعي سکتور کې د ښې حکومتولۍ نشتوالی یوه امنیتي ننګونه ده.

مونږ هوډ لرو چې په ناټو کې د ریښتینولۍ کچه د یوه ځانګړي اکادمیک دسپلین په توګه لوړه کړو. د ۲۰۱۲ کال راهیسې، کله چې د شمالي اتلانتیک شورا د ناټو دصداقت جوړونې ښوونه او روزنه او پلان تصویب کړ، مونږ د ښوونې او روزنې له لارې په دفاعي نهادونو کې د ریښتینولي د پیاوړتیا په لاره کې کار کوو.

د ریښتنولۍ او ښې حکومتولۍ غښتلي کول یوه ننګوونکې دنده ده چې د حل چمتوشوې لارې نلري. دا سیاسي ارادې، پیاوړي مشرتابه، اوږدمهال لرلید او سمو ابزارو او کړنلارو ته اړتیا لري چې بدلون وهڅوي او پایښتونکي اصلاحات منځته راوړي. ښوونه او روزنه د اصلاحاتو د تداوم او د ریښتینولۍ د فرهنګ د ودې او همداراز د نویو توانمندیو د رامنځته وړلو عامل ګرځي.

دغې لرلید ته د رسیدو لپاره، مونږ دا معلوماتي یا ماخذ تعلیمي نصاب د ناتو د صداقت جوړونې د کارکوونکو په مشرۍ د موضوع اړونده کارپوهانو د یوې څو ملیتي کاري ډلې په ملاتړ جوړکړی دی.

دغه نصاب د یوه لارښود په توګه د هغو هیوادونو، د ناتو د غړو او شریکانو دپاره لیکل شوی دی چې غواړي د صداقت جوړونې د موضوعګانو په شاملولو سره خپل ملي تعلیمي نصابونه نوي کړي او یا د صداقت جوړونې د ملي اړتیاوو د پوره کولو دپاره نوي کورسونه منځته راوړي.

زه غواړم د نوموړي کاري ډلې د ټولو غړو ستاینه وکړم چې د دې لارښود په جوړولو کې یې ونډه اخیستې ده. د دې لارښود د جوړولو منابع د صداقت جوړونې د ایمنې وجهي صندوق (Building Integrity Trust Fund) او د امریکې د متحده ایالاتو د دفاع وزیر د دفتر له خوا برابرې شوې دي.

د ناتو کارکوونکي هیله لري چې د صداقت جوړونې د ښوونې او روزنې د کچې د لوړولو او د ترټولو ښو کړنو د شریکولو په موخه د شریکانو او ملي مقامونو سره خپل کار ته دوام ورکړي.

ډاکټر جان مانزا
د عملیاتو دپاره د ناتو د سرمنشي مرستیال

## د دې مأخذ تعلیمي نصاب په باب څو ټکي

دغه مأخذ تعلیمي نصاب د کمزوري حکومتولۍ او اداري فساد اغیزه د امنیتي خطر په توګه پېژني او د ښووني او روزني په روانو کړنو کې د صداقت جوړونې د اصولو پر شاملولو باندې ټینګار کوي. دغه نصاب د یوه لارښود په ډول جوړشوی دی چې هم به د ناتو د غړو او هم د ناتو د شریکانوسره د ښوونې او روزنې د کچې په لوړولو او د صداقت جوړونې په ترویج کې مرسته وکړي. په دفاعي او اړونده امنیتي سکتورونو کې د دفاعي نهادونو جوړول او د روڼتوب، حساب ورکونې او صداقت پیاوړي کول – دا د ناتو د روانې ژمنې یوه برخه ده.

دا نصاب د دې دپاره ندی جوړشوی چې د ښې حکومتولۍ او د اداري فساد سره د مبارزې د زده کړې د ټولو ممکنو موخو او مآخذ توکي دپاره یو مفصل لارښود وي. دلته موخه داده چې د صداقت جوړونې ځانګړي توکي برابر شي چې کیدای شی په اوسني کورسونو کې شامل کړل شي او یو لړ داسې انعطاف منونکي انتخابونه برابرکړي چې کیدای شي د ملي اړتیاو د پوره کولو دپاره چمتو شي. د زده کړې موخې د ځانګې تر مشر پورې د ملکی او (د OF۲-OF۵ په کچه) پوځي افسرانو دپاره چې منځنۍ پوهه ولري په پام کې نیول شوې دي. د ناتو د مقر د ۱۳۲۵ لمبر ټیم د سلامشورې پر بنا د جندر موضوع په وړاندې شویو برخو کې شامله شوې ده. صداقت جوړونه داسې یوه مسئله ده چې په ټولو ځانګو پورې اړه نیسي او ټولې اداري هڅول کیږي چې د موضوع اړونده کارپوهانو څخه چې د ملي او نړیوالو سازمانونو، مدني ټولنې او خصوصي سکتور څخه ټاکل شوي دي، ګټه پورته کړي.

دا نصاب څلور فصلونه لري چې د زده کړې موخې، د زده کړې پوښتنې او ماخدونه پکې شامل دي. دا څلور فصلونه دادې:

- د امنیتی خطر په توګه د اداري فساد پیژندل او د صداقت جوړونې په ارزښت پوهیدل
- صداقت جوړونه او عامه اداره
- په منجمنت او د خدمتونو په برابرولو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونه
- عملیاتونه او دفاعي ښکېلتیا

دا معلوماتی تعلیمی نصاب د ناتو د غړو او پارټنرو هیوادونو د کارپوهانو د صداقت جوړونې د یوې کاري ډلې له خوا د ناتو د نړیوالو کارکوونکو د ځانګې تر لارښوونې لاندې جوړشوی دی چې  د ناتو ورته نور معلوماتی تعلیمی نصابونه چې د دفاعی زده کړو د کچې د لوړولو د پروګرام له خوا تدوین شوي دي، بشپړوي. دې نصاب ته باید د ناتو او د ملي زده کړې او روزنې په سیستمونو کې د صداقت جوړونې د ترویج د لومړي ګام په توګه وکتل شي. هیوادونه هڅول کیږي چې د تحقیقي مواردو په شمول د دې نصاب د کارولو په باب نظریې او ملي تجربې برابرې کړي ترڅو دا نصاب نورهم سمون ومومي. د دې لپاره چې ماخذونه لاسرسۍ آسانه شي، عمده ماخذ سندونه هم دلته نومول شوي دي.

د اړتیاوو او اړینو په پیژندلو سره به نور فصلونه هم ولیکل شي او په دې نصاب کې به شامل کړل شي.

# د ناتو د صداقت جوړونې تګلاره

۱. د ناتو غړي هيوادونه د ګډو ارزښتونو يوه بيساري ټولنه جوړوي چې فردي آزادۍ، دموکراسۍ، بشري حقونو او د قانون واکمنۍ ته ژمن دي. دوی ټول د يوه ګډ رسالت دپاره يو موټی دي: دا يووالی بايد د آزادۍ، سولې، امنيت او ګډو ارزښتونو د يوې بيسارې ټولنې په توګه پاتې شي. د يورو-اتلانتيک د مشارکت د شورا په بنسټيز سند کې د مندرجو اصولو سره سم د پارټنرو هيوادونو سره ډيالوګ او همکاري کولای شي د نړيوال امنيت د کچې په لوړولو او د هغو ارزښتونو په دفاع کې مشخصه ونډه واخلي چې دا يووالی ورڅنې ملاتړ کوي.

۲. غړي هيوادونه خپله ژمنه تائيدوي چې تر دموکراټيک کنټرول لاندې شفافه او مسئول دفاعي نهادونه د يورو-اتلانتيک په سيمه کې د ثبات دپاره بنسټيز ارزښت لري او د امنيت د نړيوالې همکارۍ د پاره اړين دي. هغوی دا حقيقت هم پيژني چې اداري فساد او کمزوري حکومتولي امنيتي ننګونې دي ځکه چې دموکراسي، د قانون واکمني او اقتصادي پراختيا کمزورې کوي، په دفاعی نهادونو باندې د خلکو باورتيا کموي او د عملياتو په موثريت باندې منفي اغيزه کوي.

۳. د ناتو د صداقت جوړونې تګلاره چې په دې سند کې څرګنده شوې ده د هغو تجربو څخه ګټه پورته کوي چې د صداقت جوړونې د پروګرام د پلی کولو په ترڅ کې په لاس راغلي دي. دغه پروګرام په کال ۲۰۰۷ کې د يورو-اتلانتيک د شورا له خوا پيل شو او په دفاعي او اړونده امنيتي سکتنور کې د صداقت، شفافيت او حساب ورکونې د پياوړې کولو په هکله د ناتو د ژمنې يوه برخه جوړوي. صداقت او پاکيزه والی د ځلند او اصولو تر منځ يوه اړيکه ده. د نهادونو په اړه صداقت د ښې حکومتولۍ سره مستقيم تړاو لري. د يوه نهاد د صداقت پياوړې کول د هغو اصولو د بنسټيزکولو يوه مسئله ده چې مونږ غواړو دا نهاد ورڅنې ملاتړ وکړي او همدارنګه د هغه د کاروونکو په منځ کې د نوموړو معيارونو او ارزښتونو د ټولنيز کولو يوه مسئله ده.

٤. د ناتو د صداقت جوړونې د کړنو پروګرام د ناتو د غړو، د يورو-اتلانتيک د مشارکت د شورا، د مديترانې د ډيالوګ، د استانبول د همکارۍ د نوښت، په ټوله نړۍ کې پارټنران او کولمبيا پر مخ پرانيستې دی. د نورو هيوادونو غوښتنې د ناتو له خوا د هر مورد په هکله په جلا جلا توګه څېړل کيږي. دا پروګرام ښه کارونه هڅوي او برخه والو هيوادونو ته مناسب مهارتونه او ملاتړ برابروي تر څو چې دفاعي او امنيتي نهادونه لا اغيزمن او کارووَنکي کړي.

**عمومي اصول**

۵. د ناتو د صداقت جوړونې تګلاره د لاندې اصولو په رڼا کې پرمخ بووَل کيږي:

۵,۱. صداقت جوړونه د ناتو د تړون د کړنو يو عمده عنصر ګڼل کيږي. د صداقت جوړونې ، د فساد سره د مبارزې او د ښې حکومتولۍ د سمون په موخه د اقداموونو پلی کول د ناتو، د متحدينو او پارټنرانو دپاره يوشان ارزښت لري. متحدين او پارټنران ژمن دي چې د صداقت، شفافيت او حساب ورکونې د اصولو څخه د دفاع او امنيت د اړونده سکتور د نړيوالو معيارونو او چلندونو سره سم ملاتړ وکړي او هغوی ترويج کړي.

۵,۲. د اداري فساد په اړه د امنيتي خطرونو او دفاعي اړتياوو څيړنه، او د دې اړتياوو او نړيوالو ژمنو مطابق د اغيزمنو او متوافقو دفاعي توانونو جوړول او ساتنه، اغيزمنو او شفافو ملي کړنلارو ته اړينه لري.

۵,۳. صداقت جوړونه بايد په دننه کې د ناتو د کار او کړنو مهمه برخه وي او بايد «د نهادي سمون ورکولو» د لړۍ د يوې برخې په توګه په پام کې ونيول شي. د ناتو نړيوال کارکوونکي، نړيوال پوځي کارکوونکي، پوځي قوماندانۍ او اداري بايد د صداقت، شفافيت او حساب ورکونې د ټينګښت او د خپلو جوړښتونو په دننه کې د ښې حکومتولۍ په لاره کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

**تر ټولو لوړه موخه**

٦. د صداقت جوړول او د اغيزمنو، شفافو او حساب ورکوونکي دفاعي نهادونو منځته راوړل چې د ډيرپورو ننګونو په شمول د نه اټکليدونکي امنيتی ننګونو په وړاندې ځواب وايي، د ايتلاف د غړو د آزادۍ او امنيت د ساتنې په ماموريت کې د پام وړ ونډه اخلي.

۷. د صداقت جوړونې د عمومي ماهيت په پيژندلو، او د ناتو، متحدينو او پارټنرانو د اړونده مسئوليتونو په تړاو سره، د ناتو د تګلارې موخه داده چې:

**ناتو**

۷,۱. د خپلې تګلارې د پراخو موخو او د ايتلاف د مرکزي دندو د پلی کولو په چوکاټ کې صداقت جوړونه شامله کړي.

۷,۲. د خپلو سياسي او پوځي کړنو په ټولو ليکو کې د مفکورې له پلوه د کلکې او فعالې صداقت جوړونې د منځته راوړلو په موخه يو همغږه او جوړښتيزه چلند برابر کړي.

۷,۳. خپلې هڅې د نورو نړيوالو سازمانونو سره، څنګه چې مناسبه وي، يو موټی کړي.

متحدين او پارټنران

۷,٤. د خپلې خوښې پربنا، د صداقت جوړونې اړونده ملي تګلارو، طرحو او روزنې منځته راوړلو او نوي کولو ته دوام ورکړي.

۷,۵. د خپلې خوښې پربنا، د هيوادونو نيتونه بيا تائيدوي چې د ناتو د صداقت جوړونې د پروګرام او د هغه د کړنو په چوکاټ کې لاسته راغلي پندونه او غوره کړنې شريکوي.

۷,٦. ځائيز ښتننتوب ټينګ او د نهادي او فردي کيفيت جوړونې کچه اوچته کړي.

**مرکزي دندې**

۸. د صداقت جوړونې عناصر لکه صداقت، روڼتوب او حساب ورکونه باید د دفاعي منابعو او د توانونو د پراختیا د مدیریت د سمون په لاره کې وکارول شي. دغه عناصر باید د ناتو د مرکزي دندو په ترسره کولو کې شامل شي.

**ډله ایزه دفاع**

۸،۱. ډله ایزه دفاع په مؤثرو او اغېزمنو دفاعي نهادونو پورې اړه لري او باید د صداقت، روڼتوب او حساب ورکونې د اصولو پر بنسټ ولاړه وي، چې د پیسو ارزښت د دفاعي توانونو د منځته راوړلو او د وسله والو ځواکونو د لا ښو منابعو د تامینولو په لاره کې اعظمي کچې ته ورسوي. د صداقت جوړونې پیاوړي کول باید په ملي دفاع او اړونده امنیتي سکتور کې دوام ومومي تر څو چې د هغو مقاومت په تیره بیا د اداري فساد په وړاندې تامین کړي.

**د بحران مدیریت**

۸،۲. ناتو د بحرانونو د یوه پراخ طیف سره د مبارزې لپاره د سیاسي او پوځي توانونو یوه بې سارې او کلکه مجموعه لري. د روانو عملیاتو په چوکاټ کې د ظرفیت جوړونې کړنې د بحران د مدیریت د روان خواب سره موازي ترسره کیږي. د دې حقیقت په پام کې نیولو سره چې اداري فساد په حکومت باندې د خلکو باورتیا له منځه وړي، اقتصادي پراختیا زیانمنه کوي، او شخړې دایمي کوي، صداقت جوړونه کولای شي یوه مخنیوونکې اغېزه ولري. صداقت جوړونه باید د ناتو تر مشرۍ لاندې عملیاتو او ماموریتونو په ټولو پړاوونو کې په پام کې ونیول شي.

**د همکارۍ امن**

۸،۳. د ناتو او پارټنرو هیوادونو او سازمانونو تر منځ د اړیکو پراخه شبکه د ناتو د صداقت جوړونې دپاره یو ځانګړی تحرک وربښي. د ناتو د مشارکت د تګلارې سره سم، ناتو او د هغه پارټنران خپل ګډ کار ته دوام ورکوي او چیرته چې ممکنه وي د مشارکت د بیلابیلو بڼو په دننه او یو د بله سره همکاري زیاتوي، تر څو د صداقت جوړونې د اصولو پلی کول وهڅوي، په لاس راغلي پندونه او غوره کړنې شریکې کړي.

**څو بُعدي لرلیدونه**

۹. د ناتو په مرکزي دندو کې د صداقت جوړونې شاملول د ملي هڅو یوه بشپړیزه برخه ده. د صداقت جوړونې کړنې باید د انعطاف وړ او د شرایطو سره سمون ولري.

۱۰. د ناتو د صداقت جوړونې پام په دفاعي او اړونده امنیتي سکتور کې د اداري فساد مخنیوي ته اړول شوی دی او د نورو نړیوالو لوبغاړو هڅې بشپړوي. د همکارۍ د دوه اړخیزو، سیمه ایزو او څو اړخیزو پروګرامونو په چوکاټ کې د صداقت جوړنې تګلاره باید د دغو سره همغږې شي او د بیلابیلو لوبغاړو تر منځ همغږي باید په مناسبه توګه پیاوړې شي او د جامع چلند د عمل د پلان سره سمون ورکړل شي.

۱۱. ناتو ژمن دی چې تامین کړي چې د صداقت جوړونې په پروګرام کې د برخه والو هیوادونو په دفاعي او اړونده امنیتي سکتور کې ټول پوځي او ملي پرسونل د اداري فساد د پایلو څخه خبرتیا ولري او دا چې مشران اړینه پوهاوي او پوهه ولري چې د صداقت، روڼتوب او حساب ورکونې یو سازماني کلتور منځته راوړي. د ناتو د صداقت جوړونې د زده کړې او روزنې پلان چې په ۲۰۱۲ کال کې د شمالي اتلانتیک شورا ورباندې هوکړه کړې وه د دې دپاره جوړشوی دی چې صداقت جوړونه د ناتو د زده کړې او روزنې په کړنو کې شامله کړي کوم چې په دې هکله د ملي نوښتونو په ملاتړ د روانو او راتلونکو عملیاتو او د نهادونو د کچې د لوړولو په اړه ترسره کیږي. دا پلان د ملي انفرادي او نهادي ظرفیت جوړونې د پیاوړې کولو او همداراز د زده کړې او روزنې له لارې د دوی د ځواکونو تر منځ د ګډو عملیاتو د وړتیا د کچې د لوړولو په موخه د ترسره شویو ملي هڅو څخه ملاتړ کوي.

۱۲. د صداقت جوړونې تګلاره د ښځو، سولې او امنیت په باب د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پریکړې او اړونده پریکړو د پلي کولو په اړه د ناتو د لومړیتوبونو ملاتړ ته دوام ورکوي. له همدې امله، د زده کړې او روزنې په شمول د ناتو د صداقت جوړونې په ابزارو او د کړنو په پروګرام کې د جندر د لید شاملول به دوام ومومي.

۱۳. د ناتو صداقت جوړونه د ناتو د مشارکت د تګلارې سره سمون خوري او د مشارکت د ابزارو لکه د پلان جوړونې او کتنې لړۍ (PARP)، د دفاعي زده کړې د کچې د لوړولو پروګرام (DEEP) او د مسلکي پراختیا پروګرام (PDP) سره د همغږۍ پیاوړې کولو ته به دوام ورکړي. د ناتو صداقت جوړونه به په دفاعي او اړونده امنیتي سکتور کې د ظرفیت جوړونې په نوښت (DCBI) او د مشارکت د ګډو عملیاتو د وړتیا په نوښت (PII) کې ونډې اخیستنې ته هم دوام ورکړي.

۱٤. د ناتو د هیوادونو او پارټنرانو څخه د پلي کوونکو پارټنرانو یوه شبکه هم د ناتو د صداقت جوړونې په پروګرام کې ونډه اخلي. دوی به د کارپوهانو د برابرولو، د غونډو د کوربه کولو، او د څیړنې او ارزونې ترسره کولو ته دوام ورکړي.

۱۵. ناتو، متحدین او پارټنران باید دا تامین کړي چې د صداقت جوړونې اصول د دوی د عامه ډیپلوماسۍ په اړونده ستراتیژیو او کړنو کې ځای ولري. دفاعي او امنیتي مشران د ښې حکومتولۍ د پیاوړې کولو په موخه د ریفورمونو د لاتروېجولو او ملاتړ دپاره د کمونیکشن د یوې بشپړې ستراتیژۍ څخه ګټه پورته کوي.

۱٦. مدني ټولنه او رسنۍ د پاکیزګۍ، روڼتوب او حساب ورکونې د تامین په لاره کې اړین دي. هغوی د اداري فساد او د منابعو د بد مدیریت په باب د پوهاوي د کچې په لوړولو کې یو عمده رول هم لوبوي. د ناتو صداقت جوړونه لیرې مرستې او همکارۍ پراخوي.

پلي کول او راتلونکې لاره

۱۷. وروسته له دې چې د ناتو د صداقت جوړونې تګلاره د ناتو د دولتي او حکومتي مشرانو له خوا د وارسا په غونډه کې تصویب شوه، د عمل د پلان له لارې به ورځنې ملاتړ وشي. د ناتو د صداقت جوړونې د عمل د پلان طرح کول، پلې کول او کتنه به د سیاسي چارو او امنیتي تګلارې د څانګې تر مشرۍ لاندې د صداقت جوړونې د کارې ځواک په مشرتابه ترسره شي چې د نړیوالو کارکوونکو او د ناتو د پوځي مقامونو شریکې او ګډې هڅې تمثیلوي. د شمالي اتلانتیک شورا ته به هرکال د ناتو د صداقت جوړونې د تګلارې د پلې کیدو په باب معلومات ورکړل شي.

## د محتویاتو جدول


۱. د امنیتی خطر په توګه د اداري فساد پېژندل او د صداقت جوړونې ارزښت ........................ ۸
۱،۱. لومړی فصل: د یوه امنیتي خطر په توګه په اداري فساد پوهیدل ................................ ۸
۱،۱،۱. لومړۍ برخه: اداري فساد د امنیتی خطر په توګه ........................................ ۹
۱،۱،۲. دوهمه برخه: اداري فساد په دفاع او امنیت کې: تسهیل کوونکي عاملونه او اغیزې ........................ ۱۱
۱،۱،۳. دریمه برخه: د اداري فساد د خطرونو هراړخیزه ارزونه .......................................... ۱۱
۱،۱،٤. څلورمه برخه: حقوقي چوکاټونه ............................................. ۱۳
۱،۲. دوهم فصل: د صداقت، اخلاق او د کلتور په اغیزې پوهیدل ........................................ ۱٤
۱،۲،۱. لومړۍ برخه: اخلاق ........................................................ ۱٤
۱،۲،۲. دوهمه برخه: د صداقت جوړونې کلتوري بُعد ........................................ ۱٦
۲. ښه حکومتولي او عامه اداره ........................................ ۱۹
۲،۱. لومړی فصل: د ښې حکومتولۍ اصول ........................................ ۱۹
۲،۱،۱. لومړۍ برخه: استازیتوب ........................................ ۱۹
۲،۱،۲. دوهمه برخه: بشري حقونه ........................................ ۲۰
۲،۱،۳. دریمه برخه: جندر یا جنسیت ........................................ ۲۰
۲،۱،٤. څلورمه برخه: شفافیت یا روڼتوب ........................................ ۲۱
۲،۱،٥. پنځمه برخه: حساب ورکونه ........................................ ۲۲
۲،۱،٦. شپږمه برخه: چیک او بیلانس ........................................ ۲۲
۲،۱،۷. اوومه برخه: د قانون واکمني ........................................ ۲۳
۲،۱،۸. اتمه برخه: بې پلوي ........................................ ۲۳
۲،۱،۹. نهمه برخه: باورتیا او د اټکلیدو وړتیا ........................................ ۲٤
۲،۱،۱۰. لسمه برخه: د صداقت جوړونې په نسبت ستراتیژیک چلند ........................................ ۲٤
۲،۲. دوهم فصل: د عامه نهادونو فعالیت ........................................ ۲٥
۲،۲،۱. لومړۍ برخه: اجرائیه څانګه ........................................ ۲٥
۲،۲،۲. دوهمه برخه: مقننه څانګه ........................................ ۲٦
۲،۲،۳. دریمه برخه: قضائیه څانګه ........................................ ۲٦
۲،۳. دریم فصل: چیک او بیلانس ........................................ ۲۷
۲،۳،۱. لومړۍ برخه: ملکي-پوځی اړیکي ........................................ ۲۷
۲،۳،۲. دوهمه برخه: په دفاعي سکتور کې د صداقت پارلماني څارنه ........................................ ۲۸
۲،۳،۳. دریمه برخه: په دفاعي سکتور کې د صداقت قضائي کنترول ........................................ ۲۸
۲،۳،٤. څلورمه برخه: رسنۍ او میډیا ........................................ ۲۹
۲،۳،٥. پنځمه برخه: د مدنی ټولنې سازمانونه ........................................ ۲۹
۲،۳،٦. شپږمه برخه: (د نړیوالو سازمانونو په شمول) د فساد سره د مبارزې څانګړي سازمانونه ........................................ ۳۰
۳. په منجمنت او د خدمتونو په برابرولو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونه ........................................ ۳۲
۳،۱. لومړی فصل: د بشري سرچینو مدیریت ........................................ ۳۳
۳،۱،۱. لومړۍ برخه: د بشري سرچینو ستراتیژي ........................................ ۳٤
۳،۱،۲. دوهمه برخه: په بشري سرچینو کې پریکړه کول ........................................ ۳٥
۳،۱،۳. دریمه برخه: د چاروکو اخلاقي چلند او د افشاګرو ساتنه ........................................ ۳٥

٣,١,٤.	ځلورمه برخه: جندر یا جنسیت ........................................ ٣٦
٣,٢.	دوهم فصل: مالي چارې او تدارکات ........................................ ٣٦
٣,٢,١.	لومړۍ برخه: دفاعي پلان جوړونه، د بودجې جوړونه او مالي مدیریت ........................................ ٣٧
٣,٢,٢.	دوهمه برخه: په تدارکاتو کې روڼوالی او د فساد احتمالي ګواښونه ........................................ ٣٧
٣,٣.	درېیم فصل: په ټولیزو تګلارو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونې ورګډول ........................................ ٣٩
٣,٣,١.	لومړۍ برخه: د پرېکړې په کولو کې صداقت او رښتینولي ........................................ ٤٠
٣,٣,٣.	درېیمه برخه: د صداقت او رښتینولۍ جوړونې د پروګرامونو طرح او مدیریت کول ........................................ ٤١
٤.	عملیاتونه او دفاعي ښکېلتیا/ ماموریت ........................................ ٤٣
٤,١.	لومړی فصل: په پوځي عملیاتو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونه ........................................ ٤٤
٤,١,١.	لومړۍ برخه: د فساد ډولونه او لارې چارې چې پر پوځي عملیاتو اغېزه اچوي ........................................ ٤٥
٤,١,٢.	دوهمه برخه: د فساد احتمالي ګواښونه او د ماموریت بریا ........................................ ٤٦
٤,١,٣.	درېیمه برخه: د پلان جوړونې له لارې د فساد پر وړاندې مبارزه: د ناټو د پلان جوړونې بهیر ........................................ ٤٧
٤,١,٤.	ځلورمه برخه: معیاري عملیاتي کړنلارې: تخنیکونه، عملي کړنې او بهیرونه چې د اداري فساد احتمالي ګواښونه په پوځي ماموریت کې محدودوي ........................................ ٤٨
٤,١,٥.	پنځمه برخه: د عملیاتو په ترځ کې د اداري فساد سره د مبارزې تخنیکونه، عملي کړنې او بهیرونه ........................................ ٤٨
٤,١,٦.	شپږمه برخه: د فساد احتمالي ګواښونه د ماموریت په پایښت کې ........................................ ٤٩
٤,١,٧.	اوومه برخه: د هراړخیزې طریقې له لارې د  فساد سره مبارزه ........................................ ٤٩
٤,١,٨.	اتمه برخه: مشروب او اغیزمنه پرېکړه کونه ........................................ ٥٠
٤,١,٩.	نهمه برخه:د کوربه هېواد د پوځي امنیت او پولیسو قواوو انکشاف ........................................ ٥٠
٤,١,١٠.	لسمه برخه: په پوځي عملیاتونو کې د فساد ضد او ورسره د مبارزې د مداخلو ارزونه او څارنه ........................................ ٥١
٤, ٢.	دوهم فصل: دفاعی ښکېلتیا او ظرفیت جوړونه ........................................ ٥١
٤,٢,١.	لومړۍ برخه: د دفاعي ښکېتیا ، د امنیتي ځواک په حمایت ، د پولیسي چارو په ټیکاو او په دفاعي او اړوندې امنیتي ظرفیت جوړونې کې د اداري فساد احتمالي ګواښونه ........................................ ٥٢
٤,٢,٢.	دوهمه برخه: په دفاعي ښکېلتیا، د امنیتي ځواک په حمایت او دفاعي ظرفیت جوړونې کې د فساد د احتمالي ګواښونو ارزونه او تخفیفول ........................................ ٥٣
٤,٢,٣.	درېیمه برخه: د صداقت او رښتینولۍ جوړونه، ظرفیت جوړونه: د امنیتي ځواک په حمایت او دفاعي ظرفیت جوړونې کې د صداقت او رښتینولۍ د جوړولو د پروګرامونو عملي کول ........................................ ٥٤
٤,٢,٥.	پنځمه برخه: د یوه پایښت موندونکې څارنې په جوړونې، د فساد ضد او دننني کنټرول جوړښتونو کې تر ټولو ښې عملي کړنې ٥٤

# ۱

## د امنيتی خطر په توګه د اداري فساد پيژندل
## او د صداقت جوړوني ارزښت

# ١. د امنیتی خطر په توګه د اداري فساد پیژندل او د صداقت جوړوني ارزښت

### د موضوع توضیح

دا موضوع زده کوونکو ته د یوه امنیتی خطر په توګه د اداري فساد مفکوره، دا چې فساد څنګه په دفاعي او امنیتي سکتورونو باندې اغیزه کوي، او د فساد او شخړې تر منځ تړاو معرفي کوي. په دې موضوع کې همدارنګه د اداري فساد د خطرونو د ارزونې میتودونه، حقوقي چوکاټونه، اخلاق او د اداري فساد په مخنیوي یا تسهیل کولو کې د سازماني کلتورونو رول شامل دي.

### د زده کړې موخې

- د امنیتی خطر په توګه د اداري فساد پیژندل او توضیح کول؛
- د اداري فساد د پدیدې پیژندل او توضیح کول او دا چې فساد په دفاعي او امنیتي نهادونو باندې کومه اغیزه کولای شي؛
- په دفاعي او امنیتی نهادونو کې د اداري فساد د سرچینو او تسهیل کوونکو حالاتو راپیژندل او تحلیلول؛
- په دفاعي او امنیتی نهادونو کې د اداري فساد د خطرونو راپیژندل او ارزول؛
- د اوس مهالو نړیوال معیارونو او غوره چلندونو په پام کې نیولو سره د اداري فساد په اړه د اغیزمنو حقوقي چوکاټونو تحلیلول؛
- د هغو فردي او سازماني چلندونو تشریح کول چې اداري فساد څخه مخنیوی کوی یا هغه آسانه کوي، او په دې خبره پوهیدل چې څنګه چلند د جندر په شمول د اخلاقي او کلتوري اغیزو له خوا رامنځته کیږي.

### د موضوعګانو لست


١،١.   لومړی فصل: په اداري فساد پوهیدل
١،١،١.   لومړۍ برخه: اداري فساد د امنیتی خطر په توګه
١،١،٢.   دوهمه برخه: اداري فساد په دفاع او امنیت کې: تسهیل کوونکي عاملونه او اغیزه
١،١،٣.   دریمه برخه: د اداري فساد د خطرونو هراړخیزه ارزونه
١،١،٤.   څلورمه برخه: حقوقي چوکاټونه

١،٢.   دوهم فصل: صداقت، اخلاق او کلتور
١،٢،١.   لومړۍ برخه: اخلاق
١،٢،٢.   دوهمه برخه: د صداقت جوړوني کلتوري بعدونه


## ١،١. لومړی فصل: د یوه امنیتي خطر په توګه په اداري فساد پوهیدل

### د فصل توضیح

د دې فصل موخه داده چې د اداري فساد په مفکوره او معنا، د هغه په ممکنو سرچینو او اغیزو باندې بحث وکړي او د زده کوونکو سره مرسته وکړي چې په دې پوه شي چې اداري فساد او کمزوري حکومتولي امنیتي ننګوني دي چې دموکراسي، د قانون واکمني او اقتصادي پراختیا کمزوې کوي، په دفاعي نهادونو باندې د خلکو باور له منځه وړي او په عملیاتي مؤثریت باندې منفي اغیزه کوي.

د دفاعي او امنیتي نهادونو څخه تمه کیږي چې د بحراني اوضاعو په وړاندې په چټکه او غوڅه توګه غبرګون وښیي، او قاعدتاً سملاسي اړتیاوې لکه حساس اطلاعات رفع کړي او یو عملیاتي واکمني ولري.

په دې فصل کې همدارنګه حقوقي چوکاټونه او د اداري فساد د خطرونو د راپیژندلو او څیړنې میتودونه هم شامل دي. دا فصل د یوه کارپوه له خوا چې په دفاعي او امنیتي سکتور کې نظري او حقوقي پوهه او همداراز تجربه ولري تر ټولو ښه معرفي کیدلای شي. زده کوونکو ته باید د ملګرو ملتو، د اروپا د شورا، د اقتصادي همکارۍ او پراختیا د سازمان (OECD) او په اروپا کې د امنیت او همکارۍ د سازمان (OSCE) اړونده نړیوال حقوقي تړونونه او کنوانسیونونه برابرشي.

### د فصل د زده کړې موخې

د دې فصل د بریالي بشپړولو وروسته به زده کوونکي:

- وکولای شي چې د اداري فساد او شخړې تر منځ په اړیکو، او په نړیوال امنیت بایدې د اداري فساد پر اغیزې باندې پوه شي؛
- د اداري فساد د پوهیدلو د ورې مفکورو او میتودولوژۍ سره به آشنا شي؛
- د اداري فساد د راپیژندلو او مخنیوې په اړه به د نړیوال حقوقي چوکاټ سره آشنا شي، ترڅو هغوی ته توان ورکړي چې په ملي او نهادي قوانینو باندې پوه شي او هغه تحلیل کړي.

هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي

- د اداري فساد ګډ پیژندل شوي تعریفونه چې د اړونده نړیوالو او ملي نهادونو له خوا کارول کیږي کوم دي؟
- د تیوري له پلوه د اداري فساد اکادمیک تعریفونه کوم دي؟
- د اداري فساد، شخړې او غیرقانوني کړنو لکه د شخړې په ځایونو کې د انسانانو قاچاق او سوداګري ترمنځ اړیکې څه دي؟
- د اداري فساد د اغیزې د څیړنې او د هغه د خطر د کمولو تر ټولو غوره چلندونه او میتودونه کوم دي؟
- په بیلابیلو دفاعي ډګرونو لکه تدارکات، مالي برخو، پرسونل، د سولې ساتنې په عملیاتو، او نورو کې د اداري فساد مشخص حالات کوم دي؟
- د خطر هغه عوامل چې کولای شي په دفاعي نهادونو کې اداري فساد ترویج کړي کوم دي؟
- څنګه مونږ کولای شو د دفاعي نهادونو دپاره د اداري فساد خطرونه وڅیرو؟
- د اداري فساد او جندر تر منځ اړیکې کومې دي؟
- په دفاعي ادارو کې د اداري فساد په اړه عمده نړیوال قوانین کوم دي؟
- په عمل کې د ملي قوانینو د اغیزمنتیا د توان ورکولو یا محدودولو ګډ اړخونه کوم دي؟
- څنګه ملي قوانین د نړیوال حقوقي چوکاټ سره سمون ورکول کیدای شي؟
- څنګه هیوادونه کولای شي د اداري فساد د اړونده میکانیزمونو او قوانینو مقایسوي تحلیل ترسره کړي؟

### د زده کړې میتودولوژي

- په تدریس کې به د ماهرو کارپوهانو لکچرونه او د قضیو څیړنې شاملې وي. په دغو څیړنو کې کیدای شي د نړیوال حقوقي چوکاټونو د پوښښ پرتله کول او توپیرونه شامل وي؛
- زده کوونکي به د اداري فساد د مفکوري او هغو خطرونو په باب د هغوی د پوهې او درک له پلوه ارزول کیږي کوم چې د هغو د قضیو د څیړنې په خبرو اترو کې ارزول کیدلای شي.

## مأخذونه


- Alex Cobham, Corrupting Perceptions: Why Transparency International's flagship corruption index falls short, Foreign Policy, ۲۰۱۳. http://foreignpolicy.com/۲۲/۰۷/۲۰۱۳/corrupting-perceptions/
- Centre for Integrity in the Defence Sector, Criteria for good governance in the defence sector International standards and principles, ۲۰۱۵. http://cids.no/wp-content/uploads/pdf/-۷۲۱۵ Critera-for-Good-Governance-in-the-Defence-Sector-k٦.pdf
- Mitchell A. Seligson, The impact of corruption on regime legitimacy: A comparative study of four Latin American countries, The journal of Politics ٤۳۳-۲۰۰۲:٤۰۸ ,٦٤,۰۲.
- Gabriella R. Montinola, Robert W. Jackman, Sources of corruption: a cross-country study, British Journal of Political Science ۱۷۰-۲۰۰۲:۱٤۷ ,۳۲,۰۱.
- NATO, Building Integrity Self-Assessment Questionnaire and Peer Review Process A Diagnostic Tool for National Defence Establishments, ۲۰۱۵. http://www.nato.int/nato_static_fl۲۰۱٤/assets/pdf/pdf_-۱۵۰۳۰۹_۲۰۱۵۰۳۰۹/۰۳_۲۰۱۵bi-saq-en.pdf
- NORAD, Contextual Choices in Fighting Corruption: Lessons Learned, ۲۰۱۱. http://evalueringsportalen.no/evaluering/contextual-choices-in-fighting-corruption-lessons-learned/Report_۲۰۱۱_٤_web.pdf/@@inline
- OECD, Consequences of Corruption at the Sector Level and Implications for Economic Growth and Development, March ۲۰۱۵. http://www.oecd.org/publications/consequences-of-corruption-at-the-sector-level-and-implications-for-economic-growth-and-development-۹۷۸۹۲٦٤۲۳۰۷۸۱-en.htm
- Paul Collier, The Bottom Billion: Why the poorest countries are failing and what can be done about it, Oxford University Press, ۲۰۰۸.
- Lawrence Lessig, Institutional Corruption Defined, Journal of Law, Medicine and Ethics, Vol. ٤۱, No. ۲۰۱۳ ,۳.
- Staffan Andersson, Paul N. Heywood, The Politics of Perception: Use and Abuse of Transparency International's Approach to Measuring Corruption. Political Studies ۲۰۰۹ ,(٤)۵۷.
- Transparency International, Building integrity and reducing corruption in defence & security: ۲۰ practical reforms", ۲۰۱۱. https://www.dropbox.com/s/iuob۱۵qfcy۳۲ihj/۰۲-۲۰۱۱_Handbook_IntegrityReducingCorruption.pdf
- Transparency International, Corruption Perceptions Index. http://www.transparency.org/research/cpi/overview
- Transparency International, Global Corruption Barometer. http://www.transparency.org/research/gcb/overview
- Transparency International, Government Defence Anticorruption Index ۲۰۱۵. http://government.defenceindex.org
- Vikas Anand, Blake E. Ashforth, and Mahendra Joshi, Business as usual: The acceptance and perpetuation of corruption in organizations, Academy of Management Executive, Vol. ۱۸, No. ۲۰۰٤ ,۲.
- UK Department for International Development, Why corruption matters: understanding causes, effects and how to address them. Evidence paper on corruption, January ۲۰۱۵.
- U٤ Anti-Corruption Resource Centre, International Good Practice in Anti-Corruption Legislation'. U٤ Expert Answer. http://www.u٤.no/publications/international-good-practice-in-anti-corruption-legislation/
- World Bank, World Development Report, Conflict, Security and Development, ۲۰۱۱. http://siteresources.worldbank.org/INTWDRS/Resources/WDR۲۰۱۱_Full_Text.pdf


## ۱،۱،۱. لومړی برخه: اداري فساد د امنيتی خطر په توګه

**د دې برخې توضيح**

دا برخه په عمومي ډول د اداري فساد تعريفونه او مفکورې په تيره بيا په امنيتي سکتور کې په لاس راکوي او د اداري فساد بالقوه محرکې او د فساد او شخړې تر منځ اړيکه تشريح کوي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

زده کوونکي به د دې برخې د بريالي بشپړولو نه وروسته وکولای شي چې:

- د «اداري فساد» او «ښې حکومتولۍ» عبارات پرتله او تشريح کړي؛
- په دفاعي او امنيتی سکتور کې د اداري فساد محرکې او تسهيل کوونکي عوامل راوپيژني؛
- د سولې جوړولو په لړۍ باندې د اداري فساد په اغيزې باندې پوه شي؛
- د «دولتي قبضې» د مواردو په مفکورې پوه شي او هغه تحليل کړي؛
- په دې پوه شي چې اداري فساد او شخړې يو په بل پورې څنګه تړلې دي، او دا مسئلې د امنيتی او دفاعي نهادونو د رول سره تړاو ورکړي.

**هغه مسئلې چې بايد په پام کې ونيول شي**

- د اداري فساد او ښې حکومتولۍ بيلابيل تعريفونه کوم دي؟
- په دفاعي چارو کې د دفاعي توان، عملياتي اغيزمنتيا، او د دفاعي سازمانونو د اجراآتو په کچه د اداري فساد پايلې کومې دي؟
- په دفاعي او امنيتي نهادونو کې د اداري فساد محرکين او توان ورکوونکي کوم دي؟
- په دفاعي او امنيتي چارو او حکومتولۍ کې د فاسدو چلندونو تر منځ اړيکې کومې دي؟
- هغه شرايط چې امنيتی او دفاعي سازمانونه د اداري فساد سره مخامخ کوي کوم دي؟ د اداري فساد او شخړې تر منځ کومې اړيکې شتون لري؟

**د زده کړې ميتودولوژي**

- لکچر؛
- د قضيو د څيړنو ډله ايزې خبرې اترې؛
- زده کوونکي په خبرو اترو کې د هغو د فعاليت او د قضيو د څيړنې د تحليلونو پر بنسټ ارزول کيږي.

**مأخذونه**


- Alina Mungiu-Pippidi, The Quest for Good Governance: How Societies Develop Control of Corruption, Cambridge University Press, ۲۰۱۵.
- Alix J. Boucher, Mapping and Fighting Corruption in War-torn States, Henry L. Stimson Centre, ۲۰۰۷.

org/sites/default/files/good-governance.pdf
- Victoria K. Holt and Alix J. Boucher, Framing the issue: UN Responses to corruption and Criminal Networks in post-conflict settings, International Peacekeeping, no. -٢٠ ,٢٠٠٨ ٣ ٣٢.
- Walter A. Kemp, The Business of Ethnic Conflict, Security Dialogue ٥٩-٤٣ ,٢٠٠٤ ,٣٥.
- World Bank, World Development Report ٢٠١١. Conflict, Security and Development. http://siteresources.worldbank.org/INTWDRS/Resources/WDR٢٠١١_Full_Text.pdf.
- Cheyanne Church, Thought Piece: Peacebuilding and Corruption: How many they collide?, The Nexus: Corruption, Conflict and Peacebuilding Colloquium, The Fletcher School, ٢٠٠٧.
- Daniel Jordan Smith, A Culture of Corruption: Everyday Deception and Popular Discontent in Nigeria, Princeton University Press, ٢٠٠٧.
- Emil Bolongaita, Controlling Corruption in Post-conflict Countries, Joan B. Kroc Institute for International Peace Studies, ٢٠٠٥.
- Institute for Economics and Peace, Peace and Corruption: Lowering Corruption, a Transformative Factor for Peace, ٢٠١٥.
- Jessica C. Teets, Erica Chenoweth, To bribe or to bomb; do corruption and terrorism go together?, in Robert I. Rotberg, Corruption, Global Security and World Order, Brookings Institution Press, ٢٠٠٩.
- Kimberly Thachuk, Corruption and International Security, SAIS Review, Vol. ٢٥, no. ٢٠٠٥ ,١.
- Louise I. Shelley, Dirty Entanglements: Corruption, Crime and Terrorism, Cambridge University Press, ٢٠١٥.
- Louise I. Shelly, The Unholy Trinity: Transnational Crime, Corruption and Terrorism, Brown Journal of World Affairs, no. ١١١-١٠١ ,٢٠٠٥ ,٢.
- Phil Williams, Criminals, Militias and Insurgents: Organized Crime in Iraq, US Army Strategic Studies Institute, ٢٠٠٩. http://www.strategicstudiesinstitute.army.mil/pubs/display.cfm?pubid=٩٣٠
- Philippe Le Billon, Corruption Peace? Peacebuilding and Post-conflict Corruption, International Peacekeeping, no. ,٢٠٠٨ ,٣ ٣٦١-٣٤٤.
- Robert I. Rotberg, How Corruption Compromises World Peace and Stability in Robert I. Rotberg, Corruption, Global Security and World Order, Brookings Institution Press, ٢٠٠٩.
- Sarah Chayes and the Working Group on International Security. Corruption: The Unrecognized Threat to International Security. Carnegie Endowment for International Peace. Washington D.C., June ٢٠١٤. http://carnegieendowment.org/files/corruption_and_security.pdf.
- Sarah Chayes and the Fragility Study Group, Corruption and State Fragility, Policy Brief No. ٢٠١٦ ,١.
- Sarah Chayes, Thieves of State. Why Corruption threatens Global Security. New York: W.W. Norton and Company, ٢٠١٥.
- Susan Rose-Ackerman, Corruption and Government, International Peacekeeping, no. ٣٤٣-٣٢٨ ,٢٠٠٨ ,٣
- UK Department for International Development, Why corruption matters: understanding causes, effects and how to address them. Evidence paper on corruption, ٢٠١٥.
- UNESCAP, What is good governance?, ٢٠١٣. www.unescap.

### ۱،۱،۲. دوهمه برخه: اداري فساد په دفاع او امنيت کې: تسهيل کوونکي عاملونه او اغيزې

**د دې برخې توضيح**

دا برخه د اداري فساد نورې مفکورې او په دفاعي او امنيتي سکتور باندې د هغه اغيزې را برسيره کوي. دا برخه د اداري فساد بالقوه محرکې او هغه عوامل تشريح کوي چې فاسد چلند توانوي، او د بيلابيلو هيوادونو او کلتورونو موارد څيړي. همدارنګه دا برخه د دفاعي نهادونو پر دندو باندې د اداري فساد په احتمالي پايلو او همداراز د هغوی په مشروعيت او ملي تماميت باندې د لاپراخې اغيزې په باب بحث کوي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

د دې برخې د بريالي بشپړولو وروسته به زده کوونکي وکولای شي چې:

- د دفاعي او امنيتي نهادونو ځانګړی رول او په شفافيت، حساب ورکونې او صداقت کې د هغو رول ته کتنه وکړي؛
- په دفاعي توانونو، چمتووالي، عملياتو، او د پوځي او امنيتي پرسونل پر مورال باندې د اداري فساد په اغيزو پوه شي؛
- په دې پوه شي چې څنګه اداري فساد په دفاعي او امنيتي نهادونو باندې د ټولنې مشروعيت او باور کموي.

هغه مسئلې چې بايد په پام کې ونيول شي

- په فرد، اداره، خلکو او دولت باندې د اداري فساد اغيزه څه ده؟
- اداري فساد د سرتيرو په مورال او په پايله کې د هغوی په اجراآتو باندې څنګه اغيزه کوي؟
- اداري فساد په وسله والو ځواکونو باندې د خلکو په باور باندې څنګه اغيزه کوي، او پايلې يې څه دي؟
- په دفاعي او امنيتي چارو او حکومتولۍ کې د فاسدو چلندونو تر منځ اړيکې کومې دي؟
- ټولواکي او د سيالۍ، نظارت، روڼتيا او د پايلو د حساب ورکونې نشتوالی څنګه د اداري فساد خطرونه زياتوي؟
- د اداري فساد خطرونه او اغيزې د جندر له پلوه توپير څنګه لري؟
- پټ ساتنه، بيړه، او د ځايي دفاعي صنايعو د هڅولو دپاره انديښنه څنګه اداري فساد آسانه کوي؟
- د منجمنت د کارپوهنې، د تاريخي تجربې او د امنيتي چاپېريال ملکي او پوځي مسلکي کاردرونو نشتوالی څنګه په امنيتي او دفاعي سازمانونو کې په اداري فساد کې ونډه اخلي؟

**د زده کړې ميتودولوژي**

- لکچر؛
- د قضيو د څيړنو ډله ايزې خبرې اترې؛
- زده کوونکي په خبرو اترو کې د هغو د فعاليت او د قضيې د څيړنې د تحليلونو پر بنسټ ارزول کيږي.

مأخذونه


- Eurasia Daily Monitor, Black Holes, Vanishing Roubles and Corruption in the Russian Military, Eurasia Daily Monitor, Issue ۲۰۱۰ ,۷. http://www.jamestown.org/programs/edm/single/?tx_ttnews٥٪Btt_news٥٪D=۳۷۱٥۰
- Joel S. Hellman, Geraint Jones and Daniel Kaufmann, Seize the State, Seize the Day: State Capture, Corruption, and Influence in Transition, Policy Research Working Papers, World Bank, ۲۰۰۰. http://dx.doi.org/۲٤٤٤-۹٤٥۰-۱۸۱۳/۱۰,۱٥۹٦.
- Mark Sedra, Towards Second Generation Security Sector Reform in Mark Sedra, The Future of Security Sector Reform, The Centre for International Governance Innovation, ,۲۰۱۰ ۱۱٦-۱۰۲. https://www.cigionline.org/sites/default/files/the_future_of_security_sector_reform.pdf
- Nathaniel Heller, Defining and Measuring Corruption: Where Have we Come From, Where Are We Now, and What Matters for the Future in Robert I. Rotberg, Corruption, Global Security and World Order, Brooking Institution Press, ۲۰۰۹.
- Richard Kleinfeld and the Fragility Study Group, Fragility and Security Sector Reform, ۲۰۱٦.
- Todor Tagarev, The Corruption Curse in Building Integrity and Reducing Corruption in Todor Tagarev, Defence: A Compendium of Best Practices, Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, ۱۲-۳ ,۲۰۱۰. http://defenceintegrity.eu/en/publication/corruption-curse.
- World Bank, World Development Report ۲۰۱۱, Conflict, Security and Development. http://siteresources.worldbank.org/INTWDRS/Resources/WDR۲۰۱۱_Full_Text.pdf


### ۱،۱،۳. دريمه برخه: د اداري فساد د خطرونو هراړخيزه ارزونه

**د دې برخې توضيح**

د اداري فساد د اعمالو احتمال او د هغو اغيزه په هيوادونو او د امنيتي سکتور په سازمانونو کې توپير لري او د مهال سره وده کوي. په پايله کې، هر سازمان د اداري فساد ننګونې په ځانګړې ډول تعريفوي او په دې توګه د خپلو هڅو لومړيتوب ټاکي. په دې ډګر کې غوره انکشافات څرګندوي چې د اداري فساد د ننګونو په وړاندې د مبارزې يو پياوړی چلند هم د خطر د کمولو يو چوکاټ دی چې په هغه کې د اداري فساد د لويو خطرونو د هراړخيزو راټيټولو په موخه د صداقت جوړونې عمده اقدامونه شامل دي. د خطر د کمولو د دې ډول چوکاټ د پلی کولو شرط دادی چې د هر سازمان د اداري فساد خطرونو ته کره کتنه وشي او په هراړخيزه توګه وڅيړل شي.

دا برخه په دفاعي او امنيتي سازمانونو کې د خطرونو د پيژندنې ميتودونه څرګندوي چې د محدودو سازماني سرچينو د اغيزمنې تخصيصولو امکان برابروي، ځانګړې نړيوالې مرستې ته اجازه ورکوي او ځايي څښتنتوب هڅوي. د دې برخې په پای کې به زده کوونکي د دې توان ولري چې د صداقت جوړونې د پروګرامونو د پرمختګ د ارزونې دپاره اقدامونه راوپيژني او وټاکي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

د دې برخې د بريالي بشپړولو وروسته به زده کوونکي وکولای شي چې:

- د صداقت جوړونې د پروګرامونو په طرحه کې د خطر د پيژندنې په ځای باندې پوه شي؛
- د خطر د راپيژندلو پرمختللي ميتودونه او فنونه پلی کړي؛

- د مفکورې او د خطر پر بنا د چلندونو پر توانونو او محدودیتونو باندې پوه شي؛
- په دفاعي او امنیتي سکتورونو کې د اداري فساد د خطرونو په ارزولو کې د بینچمارک (benchmark) د میتود په کارولو پوه شي؛
- د خطرونو د ښه کولو د معلوماتو، په تیره بیا په دفاعي او امنیتی سازمانونو کې د اداري فساد په باب د معلومات او شواهدو، د سیستماتیکو راټولولو او شریکولو اړتیا وارزوي.

**هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي**

- د سرچینو د راټولولو په باب د پریکړې د کولو دپاره د خطر د مدیریت کوم بیلابیل چوکاټونه شتون لري؟
- د اداري فساد د خطرونو د راپیژندلو په نسبت ډول ډول چلندونه او میتودونه کوم دي؟
- مونږ د اداري فساد احتمال او اغیزه څنګه اندازه کولای شو؟
- د خطرونو د مدیریت د چوکاټونو او د هغو د راټیټولو د ستراتیژیو محدودیتونه کوم دي؟
- د خطر د ارزونې او د خطر په مدیریت کې تر ټولو ښه رایج چلند کوم دی؟

**د زده کړې میتودولوژي**

- لکچر؛
- د اداري فساد د خطرونو د راپیژندلو تمرین (د بیلګې په توګه د دندې په یوې ټاکلې برخې کې د خطرونو راپیژندل)؛
- زده کوونکي په خبرو اترو کې د هغو د فعالیت او د قضیې د څیړنې د تحلیلونو پر بنسټ ارزول کیږي.

**مأخذونه**


- Alex Cobham, Corrupting Perceptions: Why Transparency International's flagship corruption index falls short, Foreign Policy, ۲۲ July ۲۰۱۳. http://foreignpolicy.com/۲۲/۰۷/۲۰۱۳/corrupting-perceptions/
- Exercise materials from the DCAF/SEDM BI capacity building series.
- ISO ۳۱۰۰۰ - Risk management.
- ISO ۳۱۰۰۰:۲۰۰۹, Risk management – Principles and guidelines.
- ISO/IEC ۳۱۰۱۰, Risk management – Risk assessment techniques.
- John Flaherty, Role of Internal Auditors in the Anti-Corruption Battle, The ۸th International Anti-Corruption Conference. http://www.۸iacc.org/papers/jflaherty.html
- NATO, Building Integrity Self-Assessment Questionnaire and Peer Review Process A Diagnostic Tool for National Defence Establishments, ۲۰۱۵. http://www.nato.int/nato_static_fl۲۰۱٤/assets/pdf/pdf_-۱۵۰۳۰۹_۲۰۱۵۰۳۰۹/۰۳_۲۰۱۵bi-saq-en.pdf
- Staffan Andersson and Paul N. Heywood, The Politics of Perception: Use and Abuse of Transparency International's Approach to Measuring Corruption, Political Studies ۲۰۰۹ ,(٤)۵۷.
- Transparency International, Government Defence Anticorruption Index, ۲۰۱۵. http://government.defenceindex.org

## ۱،۱،٤. څلورمه برخه: حقوقي چوکاټونه

د دې برخې توضیح

اداري فساد په عمومي ډول د قانون د ماتولو په توګه پېژندل کیږي، خو ملي قوانین د اداري فساد د تعریف له مخې او د فاسدو اعمالو پرضد د کچې او اقداموتو له پلوه له یو بل څخه زیات توپیر لري. دا برخه به د اداري فساد سره د مبارزې دپاره د یوه اغیزمن حقوقي چوکاټ په جوړولو کې د بیلابیلو چلندونو توانونه او محدودیتونه وارزوي. دا برخه همدارنګه د اداري فساد په اړه نړیوال قوانین معرفي کوي لکه د اداري فساد پرضد د ملګرو ملتونو کنوانسیون (UNCAC) او د اروپا د شورا کنوانسیونه، او د اداري فساد ضد د ملي قوانینو بیلګې. زده کوونکي به د دې فرصت ولري چې ملي معیارونه د نړیوالو غوره چلندونو سره پرتله کړي، او خلاوې او د پلی کولو ننګونې راوپېژني.

### د دې برخې د زده کړې موخې

د دې برخې د بریالي بشپړولو وروسته به زده کوونکي وکولای شي چې:

- په خپلو سازمانونو کې د موجوده ملي حقوقي چوکاټ د پلي کولو په شرایطو باندې پوه شي؛
- د «صداقت» د مفکورې د حقوقي تعریفولو په منطق باندې خبرې اترې وکړي؛
- د اداري فساد حقوقي تعریفونه څرګند او روښانه کړي؛
- د اداري فساد د کچې په راټیتولو کې د فساد ضد بیلابیلو ملي حقوقي چوکاټونو توانونه او محدودیتونه پرتله کړي؛
- د هغو ارګانونو په هکله حقوقي احکام تحلیل کړي کوم چې تحقیقي یا اجرایي واک لري؛
- د دندې اړونده قوانین لکه د تدارکاتو، د پوځي او ملکي خدمت، مالي مدیریت، یا د سرچینو د کارولو قوانین تحلیل کړي؛
- د سلوک د قواعدو حقوقي ارزښت او کارتیا باندې پوه شي؛
- د فساد ضد په نړیوالو معیارونو، په تیره بیا د اداري فساد پرضد د ملګرو ملتونو په کنوانسیون (UNCAC) کې په پلی کیدونکي شرایطو او چلندونو باندې پوه شي؛
- د نړیوالو او سیمه ایزو اړونده قوانینو لکه د پیسو مینځلو ضد، د شتمنیو د ضبط او سازمان ورکړل شویو جرمونو په باب قوانیو په اړه پوهاوي ولري؛
- د اړونده نړیوالو سازمانونو لکه د مالي عمل کاري ځواک (FATF) په اړه پوهاوي ولري.

### هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي

- د اداري فساد عمده حقوقي تعریفونه او د هغوی اساسي عناصر کوم دي؟
- په دغو تعریفونو کې کومې خلاوې شتون لري؟
- څنګه به د اداري فساد په وړاندې وقایوي او جزایي اقدامونه بشپړ کړو؛
- د اداري فساد له پلوه جزایي او مدني حقوق یو له بله څه توپیر لري، او څنګه یو بل بشپړوي؟
- د اداري فساد د قضیو په راپېژندلو او څیړنه کې د تحقیق کوم ځانګړي اسلوبونه کارول کیدای شي؟
- د اداري فساد په پایله کې د په لاس راغلي شتمنۍ د «انجماد»، «نیولو» او «ضبط» ترمنځ توپیرونه کوم دي؟
- آیا روان حقوقي اقدامونه د شاهدانو، کارپوهانو، قربانیانو، او رپوټ ورکوونکو/اطلاع رسوونکو د اغیزمني ساتنې دپاره بسیا کوي؟
- آیا د فاسدو چارواکو او مینځګړو اشخاصو د تحقیق او څارنې دپاره ځانګړي واکونو ته اړتیا لیدل کیږي؟
- د دولتي سکتور نه آخوا د اداري فساد کوم ډولونه پیښیږي او هغه څنګه په دفاعي او امنیتي سکتور باندې اغیزه کوي؟

### د زده کړې میتودولوژي

- لکچر؛
- د قضیو د څیړنو دله ایزې خبرې اترې؛
- زده کوونکي په خبرو اترو کې د هغو د فعالیت او د قضیې د څیړنې د تحلیلونو پر بنسټ ارزول کیږي.

### مأخذونه


- Corruption Laws: A non-lawyers' guide to laws and offences in the UK relating to corrupt behaviour, Transparency International-UK, ۲۰۱٦. http://www.transparency.org.uk/publications/corruption-laws-a-non-lawyers-guide-to-laws-and-offences-in-the-uk-relating-to-corrupt-behaviour/
- Council of Europe Conventions.
  - o Criminal Law Convention on Corruption (ETS No. ۱۷۳).
  - o Civil Law Convention on Corruption (ETS No. ۱۷٤).
  - o Additional Protocol to the Criminal Law Convention on Corruption (ETS No. ۱۹۱).
  - o Recommendation of the GRECO Council of Ministers (No. R (۲۰۰۰) ۱۰) on codes of conduct for public officials, including a Model code of conduct for public officials.
  - o Model code of conduct for public officials.
- Francisco Cardona, Tackling conflicts of interest in the public sector, Guides to Good Governance. no ۲, Centre for Integrity in the Defence Sector, ۲۰۱۵. http://cids.no/wp-content/uploads/pdf/cids/-۷۲۵۰DSS-Tackling-conflicts-Skjerm.pdf
- OECD Convention, Combating Bribery of Foreign Public Officials in International. http://www.oecd.org/corruption/oecdantibriberyconvention.htm
- The Bribery Act ۲۰۱۰. http://www.transparency.org.uk/our-work/business-integrity/bribery-act/
- Todor Tagarev, Regulatory Frameworks in Todor Tagarev, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: A Compendium of Best Practices, Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, ۱۹۲-۲۰۱۰:۱۷۲. http://defenceintegrity.eu/en/publication/regulatory-frameworks.
- United Nations Convention Against Corruption, Background on the United Nations Convention Against Corruption. https://www.unodc.org/unodc/en/treaties/CAC/
- U٤ Anti-Corruption Resource Centre, International Good Practice in Anti-Corruption Legislation http://www.u٤.no/publications/international-good-practice-in-anti-corruption-legislation/

### ۱،۲. دوهم فصل: د صداقت، اخلاق او د کلتور په اغیزې پوهیدل

**د دې فصل توضیح**

دا فصل په عامه اداره کې د اخلاقو او د صداقت جوړونې د مفکورې رول څېړي او موخه یې داده چې د اخلاقي او ټولنیزو معیارونو، ډله ایز فشار او په عمومي توګه د سازماني کلتور په پام کې نیولو سره زده کوونکي د خپلو انفرادي پریکړې کولو په باب ژوره پوهه ولري. دا فصل په ملي دفاعي او امنیتي سکتورونو کې د حکومتي خدمتونو په ډګر کې د ستونزو تحلیل او اخلاقي استدلال څرګندوي. په پیل کې د اخلاقو او قوانینو تر منځ توپیر روښانه کېږي او هغه موارد څېړل کېږي چې په هغو کې اخلاقي مسئلې نغښتې دي او قانون په دې هکله چوپ دی، او بیا د اخلاقي استدلال د هغو کلاسیکو بڼو (لکه د ګټورتیا اصالت او د دندې د اخلاقو) څېړنې ته دوام ورکوی چې د اخلاقي ستونځو په حلولو کې مرسته کوي. په دې فصل کې همداراز د آزاد بازار د ګټې اخیستلو مفکورې په حکومت او عامه سکتور کې د تدارکاتو او ترونونو د کړنو سره پرتله کوي، او د نهادونو او کړنلارو د طرحه کولو دپاره وړاندیزونه څېړي کوم چې حساب ورکونه، نظارت او روڼتوب منځته راوړي، او په دې توګه په دولتي سکتور کې د اداري فساد د منځته راتګ څخه مخنیوی کوي.

د دې فصل د زده کړې موخې:

- د دفاعي او امنیتي سکتور په اداره کولو کې د اخلاقو په رول او اهمیت باندې پوهیدل؛
- د صداقت د ننګونو په موردي څېړنو کې د اخلاقو د پوهیدلو کارول؛
- د دې خبرې تشریح کول چې سازماني کلتور د اداري فساد په وړاندې د یوه سازمان په مقاومت یا حساسیت باندې څنګه اغیزه کوي؛
- د هغو ساحو د راپېژندلو دپاره د یوه سازمان د کلتور تحلیلول کوم چې کولای شي د اداري فساد په وړاندې زیانمنه زیاته کړي.

هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي

- ولې اخلاق په دفاعي او امنیتی سکتور کې اهمیت لري، او څنګه د اخلاقي کړکیچو په حلولو کې چې په سازماني جوړښتونو کې منځته راځي مرسته کوي؟
- افراد په فاسد سازماني کلتور کې د فشار په وړاندې څنګه مقاومت کوي؟
- سازمانونه څنګه کولای شي اخلاقي سلوک او عمل وهڅوي؟
- سازماني کلتورونه څنګه جوړیږي، او څنګه کیدای شي بدلون ومومي؟
- بیلابیل ملي او سازماني کلتورونه د اداري فساد په اړه څنګه متغیر درکونه منځته راوړي، او څنګه دا کار په دفاعي توان جوړونې باندې اغیزه کوي؟

**د زده کړې میتودولوژي**

- په تدریس کې به د متخصصو کارپوهانو لکچرونه او موردي څېړنې شاملې وي. په موردي څېړنو کې کیدای شي د نړیوالو حقوقي چوکاټونو اړونده برخې پرتله شي او توپیرونه یې رابرسیره شي.
- زده کوونکي به د اداري فساد د مفکورې او خطرونو په باب د هغوی د پوهې او فهم پربنا ارزول کیږي، کوم چې د موردي څېړنې د خبرو اترو په ترڅ کې ارزول کیدای شي.

### ۱،۲،۱. لومړۍ برخه: اخلاق

**د دې برخې توضیح**

دا برخه د اخلاقي او ټولنیزو معیارونو، ډله ایز فشار، او په عمومي توګه د سازماني کلتور، او همدراز د اخلاقو د اصولو د توانونو او محدودیتونو په پام کې نیولو سره زده کوونکو ته د دوی د خپلې فردي پریکړې د کولو په اړه ژوره پوهه برابروي (د بیلګې په توګه چې آیا د وفاداری، ویرې یا حرص له امله په فسادي کړنو کې ښکیل شي یا نه شي). په دې برخه کې په ملي دفاعي او امنیتي سکتورونو کې د حکومت د خدمتونو په ډګر کې، په تیره بیا د شتمنیو د پیریدلو، د دولتي پروګرامونو منجمنت، او د استخدام او ترفیع په اړه د پریکړو په باب، د ستونزو تحلیل او اخلاقي استدلال وړاندې کیږي.

د دې برخې د زده کړې موخې

د لکچرونو، د لوستنې د توصیه شویو توکو، او د موردي څېړنو د تحلیل پر بنسټ به زده کوونکي وکولای شي چې:

- د اخلاقو او قانون تر منځ د «حکومتولۍ د مفکورو» په توګه توپیر وپیژني؛
- په سازماني سیستمونو او د هغو په انفرادي کارکوونکو کې د کورني او بهرني صداقت د مفکورو محتوا او تکامل تشریح کړي؛
- د اخلاقي کړکیچو (لکه د سمې یا ترټولو غوره ملي ستراتیژۍ په پیداکولو کې ابهامات) او کرکټر یا ریښتینولۍ تر منځ (چیرته چې افراد قانون ماتوي، د مقرراتو په وړاندې مقاومت کوي، او په تقلب، اداري فساد، خپل پرستي او د واک څخه په ناوړه ګټې اخیستنه کې په آګاهانه توګه لاس پورې کوي) په صحیح توګه توپیر وکړي؛
- د صداقت د مسئلو په اړه د «موردي څېړنې» میتود د ملي امنیت په ټول سیستم کې وکاروي.

هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي

- په امنیتي او دفاعي سازمانونو کې اخلاق کوم دي او بنسټیز اخلاقي ارزښتونه څه دي؟
- د تحلیلي ستونزو په توګه د اخلاقي کړکیچونو د حلولو دپاره د استدلال، ارزونې او حل عمده مهارتونه کوم دي؟
- د نهادی او سازماني جوړښتونو په دننه کې (چې کله کله په ډله ایز فشار او فاسدو کړنو مشخص کیږي) د فردي انتخاب او پریکړې پر کولو باندې اخلاق کومې اغیزې لري؟
- څنګه د سم او غوره څیزونو په اړه کلاسیک اخلاقي تیوریکانې د انفرادي یا سازماني عمل د غایي موخو په باب «استراتیژیک تفکر» ته بنه ورکوي (په تیره بیا په هغو حالاتو کې چې اړونده نافذ قانون کومه معنا لرونکې لارښونه ورنکړي)؟
- د ارسطو د اخلاقي کرکټر تیوری او د کانت اخلاقي اصول د اداري فساد ضد د ستراتیژیو په طرحه کولو کې کومې لارښوونې کوي؟
- څه شئ د هغو افرادو مقاومت («اخلاقي جرأت») ته بنه ورکوي چې د ډله ایز فشار او فاسد عنعنوي چلندونو سره مخامخ کیږي، او د دغو افرادو قوت ته امکان ورکوي چې د اداري فساد په لور د تمایلاتو په وړاندې ودریږي؟
- هغه میکانیزمونه چې امنیتی او دفاعی سازمانونه یې د اخلاقي سلوک د ټینګښت په موخه کارولای شي کوم دي؟

د زده کړې میتودولوژي

- لکچر؛
- د قضیو د څېړنو ډله ایزې خبرې اترې؛
- زده کوونکي په خبرو اترو کې د هغو د فعالیت او د قضیې د څېړنې د تحلیلونو پر بنسټ ارزول کیږي.

**مأخذونه**


- Alain Fogue-Tedom, Effective Democratization and the

Development of Moral Competencies in the Armed Forces of African States in Jr. George R. Lucas, Routledge Handbook of Military Ethics, Routledge Publishers, Ch. ٢٠١٥ ,١٠.

## ۱،۲،۲. دوهمه برخه: د صداقت جوړونې کلتوري بُعد

**د دې برخې توضیح**

فردي سلوک د ادراکونو، نظرونو، دودونو، سازماني کړنو او تولنیزو معیارونو له خوا جوړیږي. دا برخه به زده کوونکو ته سازماني کلتور، په دفاعي او امنیتي سازمانونو کې د سازماني کلتور ریښې او اړخونه او د اداري فساد سره د هغه تړاونه معرفي کړي. زده کوونکي به هغه بهرني عوامل چې د سازماني کلتور پر جوړیدلو اغیزه کوي او داچې څنګه دا کلتور د اداري فساد خطرونه کموي یا زیاتوي تحلیل کړي. زده کوونکو ته به داسې عملي مثالونه او موارد وړاندې شي چې څنګه سازماني کلتور د بیلابیلو هیوادونو په دفاعي او امنیتي سازمانونو کې اداري فساد آسانه کوي. هغوی به موردي څیړنې تحلیل کړي ترڅو په دفاعي او امنیتي سازمانونو کې د کلتور او اداري فساد په اړیکه باندې پوه شي. موخه داده چې زده کوونکو ته د هغې اغیزې په باب پوهه ورکړل شي چې سازماني کلتور یې په دفاعي او امنیتي سازمانونو کې د اداري فساد پر تسهیل یا مخنیوي باندې لري.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

د لکچرونو، د لوستنې د توصیه شویو توکو، او د موردي څیړنو د تحلیل پر بنسټ به زده کوونکي وکولای شي چې:

- د سازماني کلتور په مفکورو باندې پوه شي؛
- په دې پوه شي چې څنګه کلتور فردی او ډله ایز چلندونو ته بڼه ورکوي او کیدای شي اداري فساد تسهیل یا د هغه مخنیوی وکړي؛
- د سازماني کلتور ځانګړتیاوې (ارزښتونه، ادراکونه، نظرونه، معیارونه) راوپیژني او دا تحلیل کړي چې څنګه هغه د اداري فساد سره د دفاعي او امنیتي سازمانونو په چارو کې تړاو لري؛
- پر سازماني کلتور باندې د بهرنیو عواملو (میراث، تاریخ، ملي کلتور، دودونو او نورو) اغیزه تحلیل کړي؛
- د سازماني کلتور په جوړیدلو کې د شخصیتونو/مشرانو او د هغوی د واک د سرچینو په رول باندې د اداري فساد د خطرونو له پلوه پوه شي؛
- دا معلومه کړي چې د صداقت په وړاندې کوم ګواښونه کیدای شي په ملي او نړیوالو ټولنیزو سیستمونو کې د اداري فساد له لارې د ملي امنیت د جوړونې په بهیر کې ننوزي؛
- د ملي/سازماني کلتور د ځانګړتیاوو او د 5P موډل (فلسفه، تګلاره، پروګرامونو، بهیرونو، کړنو) تر منځ په اړیکې باندې د صداقت جوړونې له پلوه پوه شي؛
- د روانپیژندنې ترونونو او رسمي ترونونو تر منځ په تضاد او د هغه په پایله کې د صداقت د پاره په ستونزو پوه شي.

**هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي**

- د کلتور/سازماني کلتور عامې ځانګړتیاوې او تعریفونه کوم دي؟
- سازماني کلتور څنګه جوړیږي، او هغه عوامل چې د دې کلتور په جوړیدو باندې اغیزه کوي کوم دي؟
- څنګه د اداري فساد پوهیدل د هیوادونو او ټولنو ترمنځ توپیر موندلای شي؟
- د اداري فساد پر مخنیوي یا هڅولو باندې د کلتوري چاپیریال اغیزه څه ده – کیدای شي دا د فاسد چلند دپاره یوه «منطقي بهانه» وي؟
- اداري فساد په سازماني کلتور باندې څنګه اغیزه کوي؟
- بیلابیل متفاوت سازماني کلتورونه د جندر او اداري فساد د مسئلو سره څنګه چلند کوي؟
- سازماني کلتورونه د ملت جوړونې او دفاعي ادارو جوړونې د تاریخي انکشافاتو له خوا څنګه متاثره کیږي؟
- د دفاعي او امنیتي سازمانونو کلتوري ځانګړتیاوې کومې دي؟
- کلتور څنګه بدلون مومي؟ د بدلون مهالي چوکاټ کوم دی او څه شئ د بدلون په وړاندې مقاومت مشخص کوي؟

**د زده کړې میتودولوژي**

- لکچر؛
- د قضیو د څیړنو ډله ایزې خبرې اترې؛
- زده کوونکي په خبرو اترو کې د هغو د فعالیت او د قضیې د څیړنې د تحلیلونو پر بنسټ ارزول کیږي.

**مأخذونه**


- Alison Taylor, What impact does organizational culture have on corruption? http://www.ethic-intelligence.com/experts/-۸۸۷۹relationship-organisational-culture-corruption/
- David Gebler, The ۳ Power Values: How Commitment, Integrity, and Transparency Clear the Roadblocks to Performance, Jossey-Bass, ۲۰۱۲.
- Ed Voerman, Fons Trompenaars, Servant Leadership Across Cultures, Infinite Ideas, ۲۰۰۹.
- Geert Hofstede, Gert Jan Hofstede, Michael Minkov, Cultures and Organizations, Software of the Mind, ۳ Ed., McGraw-Hill, ۲۰۱۰.
- George Lucas, Military Ethics: What Everyone Needs to Know, Oxford University Press: Ch. ۲۰۱۵ ,۵.
- George Lucas, Rick Rubel, Case Studies in Military Ethics, ۳rd Edition, Pearson, ۲۰۱۲.
- Lawrence Lessig, "Institutional Corruption" Defined, Journal of Law, Medicine and Ethics, ٤۱, no. ۵۵۵-۵۵۳ ,۲۰۱۳ ,۳.
- Nickolay Slatinski, Cultural Awareness in Implementing Integrity Building Programmes" in Todor Tagarev, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: A Compendium of Best Practices, Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, ۳۲۲-۳۱۲ ,۲۰۱۲.
- Paul Gibbons, The Science of Successful Organizational Change: How Leaders Set Strategy, Change Behavior, and Create an Agile Culture, Pearson Business, ۲۰۱۵.
- Robert E. Quinn, Kim S. Cameron, Diagnosing and Changing Organizational Culture: Based on the Competing Values Framework, Jossey-Bass, ۳ Ed., ۲۰۱۱.
- Stephen Coleman, Military Ethics, Oxford University Press, ۲۰۱۲.
- Vikas Anand, Blake E. Ashforth, Mahendra Joshi, Business as usual: The acceptance and perpetuation of corruption in organizations, Academy of Management Executive, ۱۸, no. ,۲ ۲۰۰٤.
- The Hofstede Centre, Country comparison. https://geert-hofstede.com/countries.html

# ۲

## بنه حکومتولي او عامه اداره

**د موضوع توضیح**

دا موضوع زده کوونکو ته د ښې حکومتولۍ مفکوره او په عامه ادارو کې د هغې ارزښت پوهوي. په دې موضوع کې د ښې حکومتولۍ عمده اصول، د دولتي ادارو فعالیت او بیلابیل چیکونه او بیلانسونه چې د دفاعي او اړونده امنیتي سکتور د نظارت او څارنې په موخه شتون لري، شامل دي.

**د زده کړې موخې**

- په عامه اداره کې د ښې حکومتولۍ په مفکوره او همداراز په دفاعي او اړونده امنیتي سکتورونو کې د حقوقي او اخلاقي معیارونو د کارولو په ارزښت پوهیدل؛
- د ښې حکومتولۍ عمده اصول او په عصري دفاعي ادراو کې د هغوی د پلې کولو د ممکنو بڼو راپېژندل؛
- په دې باندې بحث کول چې څنګه په دفاعي سکتور کې د صداقت لوړه کچه ټولنه توانوي چې پاینښتونکي ډموکراسي ته ورسیږي او هغه وساتي؛
- د جلاشویو واکونو د مفکورې پر بنا د دولتي ادارو په فعالیت پوهیدل او په هغې کې د دفاعي ادارو د مناسب رول تحلیول؛
- په معاصر دفاعی سکتور کې د چیکونو او بیلانسونو د سیستم او د هغه د عمده عناصرو تعریفول؛
- د ملکي او پوځي نهادونو تر منځ د اړیکو پر ماهیت او د هغوي پر متقابلو تړاوونو باندې خبرې اترې کول؛
- دا معلومول چې په دفاعي او امنیتي سکتورونو کې د صداقت لوړه یا ټیټه کچه څنګه کولای شي د هغوی پر کار او په یوه ټولنه کې د قانون پر واکمني اغیزه وکړي؟
- د ښې حکومتولۍ او عامه ادارې په اړه په جندر باندې پوهیدل.

**مأخذونه**


- Centre for Integrity in the Defence Sector, Guides to Good Governance. http://cids.no/?page_id=٤٥٩٦


**د موضوعګانو لست**


٢,١. لومړی فصل: د ښې حکومتولۍ اصول

٢,١,١. لومړی برخه: استازیتوب

٢,١,٢. دوهمه برخه: بشري حقونه

٢,١,٣. دریمه برخه: جندر یا جنسیت

٢,١,٤. څلورمه برخه: شفافیت یا روڼتوب

٢,١,٥. پنځمه برخه: حساب ورکونه

٢,١,٦. شپږمه برخه: چیک او بیلانس

٢,١,٧. اوومه برخه: د قانون واکمني

٢,١,٨. اتمه برخه: بې پلوي

٢,١,٩. نهمه برخه: باورتیا او د اټکلیدو وړتیا

٢,١,١٠. لسمه برخه: د صداقت جوړونې په نسبت ستراتیژیک چلند

٢,٢. دوهم فصل: د عامه نهادونو فعالیت

٢,٢,١. لومړی برخه: اجرائیه څانګه

٢,٢,٢. دوهمه برخه: مقننه څانګه

٢,٢,٣. دریمه برخه: قضائیه څانګه

٢,٣. دریم فصل: چیک او بیلانس

٢,٣,١. لومړی برخه: ملکي-پوځی اړیکې

٢,٣,٢. دوهمه برخه: په دفاعي سکتور کې د صداقت پارلماني څارنه

٢,٣,٣. دریمه برخه: په دفاعي سکتور کې د صداقت قضائي کنترول

٢,٣,٤. څلورمه برخه: رسنۍ او میډیا

٢,٣,٥. پنځمه برخه: د مدنی ټولنې سازمانونه

٢,٣,٦. شپږمه برخه: (د نړیوالو سازمانونو په شمول) د فساد سره د مبارزې ځانګړي سازمانونه

## ۲. ښه حکومتولي او عامه اداره

### ۲،۱. لومړی فصل: د ښې حکومتولۍ اصول

**د دې فصل توضیح**

ښه حکومتولي د دولت د پارلماني، اجرائي او قضایي څانګو د واکونو د جلاکولو پر بنسټ ولاړه ده. د واکونو جلاکول باید د چیکونو او بیلانسونو یو اغیزمن سیستم رامنځته کړي چې د دولت د هرې څانګې له خوا د واک په خپل سر یا یو اړخیزه کارول محدود کړي. ښه حکومتولي د قانون تر واکمنۍ لاندې د بې پلویزې، ډاډمنې او اټکلیدونکي عامه ادارې سره یوځای داسې یو چاپېریال جوړوي چې هلته دفاعي تاسیسات د صداقت په کلتور باندې سمبال وي چې اداري فساد نه مني.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- په دفاعی ادارو کې د ښې حکومتولۍ د تاسیسولو او ساتلو د اهمیت پېژندل؛
- د داسې یو حکومت په عمده ځانګړتیاوو باندې پوهیدل چې په جوړښتیزه توګه ښه حکومتولي او عامه اداره هڅوي؛
- د حکومتولۍ او اداري جوړښتونو په دننه کې په هغو مشخصاتو او سلوکونو پوهیدل چې د دفاعي ادارو پر عملیاتو او د هغوی پر سازماني چاپیریال باندې اغیزه کوي؛
- د دولت د څانګو تر منځ په متقابلو اړیکو پوهیدل تر څو د دې اټکل وشي چې دا اړیکې په دفاعي سکتور باندې څنګه اغیزې کوي او په ملکي-پوځي اړیکو کې د دفاعي ارګانونو د مناسب رول په تعریفولو کې مرسته کوي؛
- د اغیزمنې حکومتولۍ او اداري اړین عمده ظرفیتونه پېژندل (لکه شفافیت، حساب ورکونه، او بشري حقونو ته درناوی)؛
- په دې حقیقت پوهیدل چې څنګه ښه حکومتولي او عامه اداره د اداري فساد د خطر د کمولو او په دفاعي ارګانونو کې د صداقت د کلتور د روزلو او ترویج شرطونه ګڼل کیږي.

**هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي**

- د ښې حکومتولۍ د اصولو اړونده عمده مفکورې کومې دي؟
- تاسو په یوې دموکراسۍ کې د ښې حکومتولۍ او ښې اداري اهمیت څنګه شودلای شئ؟
- آیا زده کوونې د دې توان لري چې د ښې حکومتولۍ او په دفاعي سکتور کې د صداقت جوړونې تر منځ د اړیکو په باب معلومات ورکړي؟

**د زده کړې میتودولوژي**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.
-

#### ۲،۱،۱. ..................... لومړۍ برخه: استازیتوب

**د دې برخې توضیح**

دموکراسي د استازیتوب د اصل پر بنسټ جوړیږي چې د آزادو، رقابتي او عادلانه ټاکنو په ترڅ کې بیانیږي. د دولت اجرائیه څانګه (چې دفاعي سیستم په هغه پورې اړه لري) هغه دنده چې د پارلمان له خوا ورکول کیږي ترسره کوي او د پارلماني څارنې د یوه سیستم له لارې چې باید د حقوقي او اخلاقي معیارونو سره سم جوړشي، کنټرولیږي. د دې برخې په ترڅ کې د دفاعي ارګانونو کارکوونکي به د استازیتوب په سیاسي مفکوره باندې د صداقت د اصولو او په یوې دموکراسۍ کې د دفاعي چارو پر مدیریت باندې د دغو اصولو د اغیزې پر بنسټ پوه شي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- په عصری سیاسی تفکر کې د استازیتوب د مفکورې او په دفاعي مدیریت باندې د هغې د اغیزې تعریفول؛
- په سیاسي ژوند او عصري ټولنه کې د استازیتوب ترټولو مهمو بڼو او په دفاعي سکتور باندې د هغو د اغیزې څرګندول؛
- په دې بحث کول چې څنګه د سیاسي ګوندونو د تمویلولو طرحې کولای شي استازینه دموکراسي تحریف کړي؛
- په دې بحث کول چې څنګه او ولې د سیاسي ګوندونو اغیزه کولای شي دفاعي توانونه او د خلکو باور په وسله والو ځواکونو او امنیتي ځواکونو باندې کمزوري کړي.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Irwin Shapiro, Susan Stokes, Elisabeth Wood, Alexander Kirshner, Political Representation, Cambridge University Press, ۲۰۱۰.

https://www.princeton.edu/~ppettit/papers/۲۰۱۰/Varieties۲۰٪of۲۰٪Public۲۰٪Representation.pdf
- M.J.C. Vile, Constitutionalism and the Separation of Powers, Indianapolis, Liberty Fund, ۲ Ed., ۱۹۹۸.
- Nadia Urbinati, Representative Democracy, Principles and Genealogy, University of Chicago Press, ۲۰۰۸.

## ۲,۱,۲. دوهمه برخه: بشري حقونه

**د دې برخې توضيح**

د ملګرو ملتونو د بیان سره سم بشري حقونه د ټولو انسانانو ذاتي حقونه دي پرته له دې چې دوی کوم ملیت، د استوګنې ځای، جنس، ملي یا قومي سیمه، رنګ، مذهب، ژبه، یا بل کوم موقف لري. انسانان ټول پرته له تبعیض څخه په مساوي توګه د بشري حقونو حق لري. دا حقونه ټول سره تړلي دي، یو بل سره تړاو لري او نه بېلېدونکي دي. نړیوال بشري حقونه اغلباً د قانون لخوا د تړونونو، عرفي نړیوال قانون، عمومي اصول او د نړیوال قانون د نورو سرچینو په بڼه بیان او تضمین کیږي. د بشري حقونو په نړیوال قانون کې د حکومتونو مکلفیتونه تسجیل شوي دي چې په معین ډول عمل وکړي یا د معینو کړنو څخه ډډه وکړي، ترڅو د افرادو یا ډلو بشري حقونه او بنسټیزې آزادۍ ترویج او وساتي. د بشري حقونو د درناوي مکلفیت نه یواځې قانوني دی، بلکه باید د یوه اخلاقي اصل په توګه وپیژندل شي، او په دې ډول د بشري حقونو چلند ته د صداقت د یوې مسئلې په توګه وکتل شي. د دفاع او امنیت نوي سیستمونه د قانون له مخې د بشري حقونو (لکه د ژوند او بدني بشپړتیا، د ربړونې مخنیوی، د انسان وقار، خپلواکه عدالت، د بیان ، عقیده او مذهب آزادي او داسې نورو) په درناوي او ساتنې مکلف دي. په دې برخه کې به په دې غور وشي چې څنګه د دفاع سکټور د ځانګړي ماهیت، د ملي امنیت د ساتنې او په وسله واله جګړه یا په بیړني حالاتو کې د کار کولو د اړتیا په پام کې نیولو سره، دفاعي پرسونل ممکن د جدي ننګونو سره چې په اغېزمن ډول د بشري حقونو د ساتنې لپاره د مناسبې زده کړې او روزنې غوښتنه کوي، مخامخ شي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- له تاریخي پلوه د بشري حقونو د تکامل څرګندول؛
- د یوځ په اړه د قوانینو او مقرراتو په شمول په عصري نړۍ کې د بشري حقونو د مسئلو د تنظیم د مهمو حقوقي ابزارو او اخلاقي معیارونو معرفي کول؛
- په عصري دفاعي سیستمونو باندې د بشري حقونو او بشرغوښتونکو قوانینو د اغیزې تحلیلول؛
- د بشري حقونو د مسئلو یا د بشري حقونو د سرغړونو په اړه (د ملکي دفاع د پرسونل په شمول) د یونیفورم لرونکو او وسله وال پوځونو دپاره د چلند د معیارونو برابرول؛

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څېړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Council of Europe, Democratic and Effective Oversight of National Security Services, Council of Europe Commissioner for Human Rights, ٢٠١٥.
- Inderjit Singh, The United Nations Human Rights Regime: An Analysis, International Journal Of Multidisciplinary Approach & Studies, ٢٠٤-١٩٥ ,٢٠١٦ ,(١)٣.


## ۲,۱,۳. دریمه برخه: جندر یا جنسیت

**د دې برخې توضيح**

د جندر یا جنسیت مساوات یوه مفکوره ده چې په قانون او ټولنه کې د نارینه وو او ښځو ترمنځ حقوقي او ټولنیزو مساواتو ته د رسیدلو پر بنسټ ولاړه ده چې هغوی ته د ټولنیز ژوند په ټولو برخو په تیره بیا د دندې په ځای کې مساوي فرصتونه برابروي. د تیرو دریو لسیزو په ترڅ کې، د جندر مسئله د نړیوالو اړیکو په تیوري کې، په تیره بیا د امنیتي او دفاعي مطالعاتو په ډګر کې، د پام وړ ګرځیدلې ده. برسیره پردې، په دې وروستیو کې (د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پریکړه لیک پر بنسټ) په پوځي عملیاتو کې د «جندر ترویجولو» ته په زیاتیدونکي توګه پام اړول شوی دئ. په دې برخه کې د جندر د مساواتو د مفکورې په چوکاټ کې د صداقت د اهمیت او اغیزې او په ځانګړې توګه دا چې دا مفکوره د پوځي چاپېریال په اړه څنګه کارول کیږي، بحث کیږي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د جندر د مساواتو د مفکورې د تاریخي ودې معرفي کول؛
- په نړیواله، سیمه ایزه او ملي کچه د جندر د مسئلو په باب د عمده حقوقي سندونو معرفي او په هغو خبرې اترې کول؛
- په عصري دفاعي سیستمونو او په ځانګړې توګه په هغه هیواد کې چې دغه برخه کارول کیږي، د جندر د مساواتو د په لاس راغلې کچې تحلیول.

د زده کړې میتودولوژي / ارزونه

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څېړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Consortium of Gender, Security and Human Rights, Syllabus Collection. http://genderandsecurity.org/projects-resources/syllabus-collection
- Nordic Centre for Gender, Whose Security, ٢٠١٥. http://www.forsvarsmakten.se/siteassets/english/swedint/engelska/swedint/nordic-centre-for-gender-in-military-operations/whose-security-٢٠١٥-low-resolution.pdf
- Nordic Centre for Gender, UN resolutions on gender. http://www.forsvarsmakten.se/siteassets/english/swedint/engelska/swedint/nordic-centre-for-gender-in-military-operations/un-resolutions.pdf
- UN Women, Gender and Security Training Manual, ٢٠١٢. https://trainingcentre.unwomen.org/pluginfile.php/٢٤٨٤/mod_resource/content/١/Gender٢٠٪and٢٠٪Security٢٠٪training٢٠٪manual٢٠٪eng.pdf

## ٢،١،٤. څلورمه برخه: شفافيت يا روڼتوب

د دې برخې توضيح

شفافيت د دموکراسۍ د ټينګښت او د دولتي چارواکو د حساب ورکونې د ودې په لاره کې لويه ونډه اخلي. روڼتوب همدارنګه په عامه اداره کې د منجمنت يو ميتود دی چې د قانوني چوکاټ پر بنسټ د معلوماتو برابرونه، وضاحت او دقت معنا لري او د کنټرول او څارنې د پرمختللو سيستمونو له خوا ورځنې ملاتړ کيږي. روڼتوب د صداقت او فساد ضد کلتور يو مهم رکن شميرل کيږي. دا اصل د پلان جوړونې او پريکړې کولو نه نيولې بيا د پيسو د لګښت او د سيستمونو د پلې کولو او اجراآتو پورې د ټولو سکتورونو په مورد کې صدق کوي. برسيره پردې، شفافيت د ستراتيژيکې کچې نه نيولې بيا تر عملياتي کچې پورې رسيږي. په عصري دفاعي سيستمونو کې، له يوې خوا د شفافيت د هغو معيارونو پلې کولو ته چې د عامه ادارې په نورو څانګو کې شتون لري، او له بلې خوا د هغو حساسو معلوماتو ساتلو ته چې د ملي امنيت يا دفاعي چارو دپاره کيدای شي مهم وي، اړينه ليدل کيږي. د دې دواړو ترمنځ اغلب سخته ده چې يو مناسب انډول په لاس راشي. د دې برخې موخه داده چې د شفافيت، دموکراسۍ او اداري فساد ضد تګلارو تر منځ د غښتلې اړيکو په باب پوهاوي ته سمون ورکړل شي.

### د دې برخې د زده کړې موخې

- په عصری عامه ادارو کې د شفافيت د بنسټيزو اصولو تشريح کول او د دې مفکورې تاريخي ودې وړاندې کول؛
- په نړيواله او ملي کچه د شفافيت د معيارونو د تنظيم عمده قوانينو وړاندې کول؛
- په نړيواله، سيمه ايزه او ملي کچه د په عصري دفاعي سيستمونو کې شفافيت د په لاس راغلي معيارونو په مقايسوي توګه تحليلول؛
- د شفافيت په محدوديتونو باندې غورکول او د هغوی د مشروعيت تعريفول؛
- د نيکو اطلاع رسوونکو د ساتنې په شمول د شفافيت د کچې د لوړولو پراخه تګلارې په پام کې نيول.

### د زده کړې ميتودولوژي / ارزونه

- په تدريس کې به لکچرونه، د قضيو څيړنې، د عمومي او ډله ايزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرينونه شامل وي.

### مأخذونه


- Amanda L. Jacobsen A, National Security and the Right to Information in Europe, University of Copenhagen, Centre for Advance Security Theory, ٢٠١٣.
- Council of Europe, The Protection of Whistle-blowers: A study on the feasibility of a legal instrument on the protection of employees who make disclosures in the public interest, CDCJFIN, ٢٠١٢.

http://www.coe.int/t/dghl/standardsetting/cdcj/Whistleblowers/CDCJ(٩(٢٠١٢F_Final.pdf

- Council of Europe, Recommendation CM/Rec (٧(٢٠١٤ of the Committee of Ministers to member States on the protection of whistle-blowers.

https://wcd.coe.int/ViewDoc.jsp?Ref=CM/Rec(٧(٢٠١٤&Language=lanEnglish&Site=CM&BackColorInternet=DBDCF٢&BackColorIntranet=FDC٨٦٤&BackColorLogged=FDC٨٦٤

- Francisco Cardona, Access to Information and Limits to Public Transparency, Guide to Good Governance ٤, Centre for Integrity in the Defence Sector, Norwegian Ministry of Defence, ٢٠١٦.
- Lawrence Friedman, Victor Hansen, Secrecy, Transparency and National Security, William Mitchell Law Review, Vol. ٣٨:٥, ٢٠١٢, ١٦١٠-١٦٢٨.
- OECD, The Right to Open Public Administrations in Europe: Emerging Legal Standards, Sigma Papers, No. ٤٦, OECD Publishing, ٢٠١٠.

http://dx.doi.org/٥/١٠,١٧٨٧km٤g٠zfqt-٢٧en

- Robert G. Vaughn, The Successes and Failures of Whistle-blower Laws, Elgar Publishing, ٢٠١٢.
- Tarlach Mcgonagle, Yvonne Donders, The United Nations and Freedom of Expression and Information: Critical Perspectives, Cambridge University Press, ٢٠١٥.
- The Global Principles on National Security and the Right to Information (Tshwane Principles), Open Society Foundation, ٢٠١٣.
- Transparency International, Whistleblowing in Europe: Legal Protections for Whistle-blowers in the EU, ٢٠١٣.

http://issuu.com/transparencyinternational/docs/٢٠١٣_whistleblowingineurope_en

## ۲،۱،۵. پنځمه برخه: حساب ورکونه

### د دې برخې توضیح

د یوې عصري اداري وجیبه ده چې د خپلو کړنو حساب ورکړي، د هغو مسئولیتونه ومني، او د خپل کار پایلې په شفافه توګه څرګند کړي، او همدرانګه په مسئولانه توګه سپارل شوې مالي منابع، مادي شتمنۍ او ملکیتونه اداره کړي. دغه برخه څرګندوي چې څنګه دفاعي سیستمونه کولای شي په بشپړه توګه د حساب ورکونې حقوقي معیارونه پلی کړي او د شفافیت او حساب ورکونې په نسبت د بیلابیلو چلندونو په باب خبرې اترې وهڅوي.

### د دې برخې د زده کړې موخې

- د حساب ورکونې د بنسټیزو اصولو او د دغې مفکورې او معیارونو د تاریخي تکامل څرګندول؛
- د حساب ورکونې د معیارونو په باب په نړیواله، سیمه ایزه او ملي کچه د ترټولو مهمو قوانینو بیانول؛
- په عصري دفاعي سیستمونو کې د حساب ورکونې د په لاس راغلې کچې تحلیلول، په تیره بیا په هغه هیواد کې چې دا برخه کارول کیږي. د غوره چلندونو د بیلګو رابرسیره کول.
- د ګټو د تناژع په هغو تګلارو باندې غور کول چې په دفاعي سکتور کې د چارواکو د حساب ورکونې او شفافیت کچه لوړوي؛
- په دفاعي سکتور کې د اجراآتو دپاره د حساب ورکونې د منځته راوړلو په اساساتو پوهیدل؛
- په امنیتي او دفاعي ډګر کې د حساب ورکونې د ابزارو په اړه د صداقت په مسئلو پوهیدل.

### د زده کړې میتودولوژي / ارزونه

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

مأخذونه


- Amanda Sinclair, The Chameleon of Accountability: Forms and Discourses, Accounting, Organization and Society, ۱۹۹۵, ۲۳۷-۲۱۹.
- Antonio B. Cendon, Accountability and Public Administration: Concepts, Dimensions, Developments in Openness and Transparency in Governance: Challenges and Opportunities, NISPAcee and IEPA, ۱۹۹۹.
- Francisco Cardona, Guide to Good Governance No ۲: Tackling Conflicts of Interest in the Public Sector, Centre for Integrity in the Defence Sector, Norwegian Ministry of Defence, ۲۰۱۵.
- Melvin Dubnick, Clarifying accountability: an ethical theory framework, in C. Sampford, N. Preston, Public Sector Ethics, Routhledge, ۱۹۹۸, ۸۱-٦۸.
- OECD, Conflict of Interest Policies and Practices in Nine EU Member States: A Comparative Review, Sigma Papers, No. ۳٦, OECD Publishing, ۲۰۰۷.
- OECD, Managing Conflict of Interest in the Public Service: OECD Guidelines and Overview, OECD publishing, ۲۰۰۳.
- OECD, Managing Conflict of Interest in the Public Service: OECD Guidelines and Overview, OECD publishing, ۲۰۰۳.
- OECD Policy Brief, Public Sector Modernising Accountability and Control, OECD Observer, ۲۰۰۵.
- Richard Mulgan, Accountability: an Ever-expanding Concept?, Public Administration, No ۵۷۳-۵۵۵ ,۲۰۰۰ ,۳.


## ۲،۱،٦. شپږمه برخه: چیک او بیلانس

### د دې برخې توضیح

چیکونه او بیلانسونه یو لړ میکانیزمونه دي چې د خطاوو یا ناسمو چلندونو کچه راټیټوي او په عین حال کې د حساب ورکونې کچه لوړوي. دا اصل د واکونو، مسئولیتونو او معلوماتو د شریکولو پر بنسټ ولاړدئ تر څو داسې یو چاپیریال منځته راشي چې په هغه کې هیڅ یو کس یا اداره په یوازې توګه پر پریکړو باندې مطلق کنټرول ونلري. د واک تمرکز د اداري فساد د خطر عمده عامل ګڼل کیږي، په داسې حال کې چې د متضادو واکونو او شفافیت سیستم د اداري فساد او غیراخلاقي چلندونو د دموکراتیکو کنټرولونو د ودې عامل شمیرل کیږي. د چیک او بیلانس د سیستم ترټولو مهم میکانیزمونه دادي: پارلماني څارنه، د اداري فساد ضد تګلارې، د اداري فساد ضد ځانګړې ارګانونه، د ګټو د تناژع ترتیبات، شفافیت / معلوماتو ته د لاسرسۍ د آزادۍ ترتیبات، د بهرنۍ او کورنۍ پلټنې ترتیبات، د څارنې او کتنې ترتیبات او د خلکو د شکایاتو مراجع.

### د دې برخې د زده کړې موخې

- د چیک او بیلانس د یوه سیستم وړاندې کول او د دې مفکورې د تاریخي ودې څرګندول؛
- د چیکونو او بیلانسونو د معیارونو په اړه په نړیواله، سیمه ایزه او ملي کچه د تر ټولو مهمو قوانینو بیانول؛
- په دفاعي سکتورونو کې د چیکونو او بیلانسونو د رواڼو فعالو سیستمونو تحلیلول.

### د زده کړې میتودولوژي / ارزونه

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

مأخذونه


- Daniel Lederman, Norman Loayza, Norman, Rodrigo Soares, Accountability and Corruption: Institutions Matter, Economics and Politics, Vol. ۱۷, Issue ۲۰۰۵ ,۱.
- James Alt, David Lassen, Political And Judicial Checks on Corruption: Evidence from American State Governments, Economics and Politics, Vol. ۲۰, Issue ۲۰۰۷ ,۱.

## ۲،۱،۷. اوومه برخه: د قانون واکمني

**د دې برخې توضیح**

که څه هم اداري قانون د ملي سیستمونو تر منځ توپیرلري خو د دې قانون د یو ګډ تعریف په توګه دا د هغو اصولو او قواعدو یوه مجموعه ده چې د عامه اداري او د اداري او اتباعو تر منځ د اړیکو د سازمان ورکولو او مدیریت دپاره کارول کیږي. په دغه برخه کې به څرګنده شي چې څنګه د قانون د واکمنۍ اصول لکه قانونیت، د اداري پریکړو د دلایلو برابرول، معلوماتو ته لاسرسی، حساب ورکونه، او د غږاوریدلو حق باید د دفاعي تاسیساتو په شمول د عامه خدمتونو د عرضې په ترڅ کې شامل وي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د قانون د واکمنۍ د تعریف او مفکورې تشریح کول او داچې څنګه دا واکمني په یوه فعاله عامه ادارهکې یو عمده رکن دئ؛
- په دې پوهیدل چې څنګه د قانون واکمني په بیلابیلو هیوادونو، سازمانونو او دفاعي تاسیساتو کې د دوی په مقرراتو کې تسجیل شوي او عملي کیږي.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Rachel Kleinfeld, Advancing the Rule of Law Abroad: Next Generation Reform, Carnegie Endowment for International Peace, ۲۰۱۲.
- Richard Sannerholm, Shane Quinn, Andrea Rabus, Responsive and Responsible: Politically Smart Rule of Law Reform in Conflict and Fragile States, Folke Bernadotte Academy, ۲۰۱٦.
  www.fba.se
- Tom Bingham, The Rule of Law, Allen Lane, Penguin Books, ۲۰۱۰.


## ۲،۱،۸. اتمه برخه: بې پلوي

**د دې برخې توضیح**

د بې پلوۍ اصل دا غواړي چې د عامه اداري ارګانونه باید په بې پلوۍ سره عمل وکړي او یوازې عامه ګټې په پام کې ونیسي، او د نورو ګټو د پاملرنې څخه ډډه وکړي. په عمل کې، بې پلوي اغلب د دولتي کارکوونکو څخه غواړي چې د هغو نظریو، موقفونو یا کړنو څخه ډډه وکړي کوم چې د حکومت د سیاسي تګلارو د دفاع په شمول د یوې ځانګړې داعیې یا عمل د پلوي یا ضد د غرض او تعصب ښکارندوی وي. د سیاست له پلوه، د خدمت یوه بې پلوه عامه اداره د هر سیاسي ګوند د حکومت څخه، کوم ګوند چې د خلکو له خوا ټاکل کیږي، ملاتړ کوي او د غیرقانوني لارښوونو یا د اخلاقي پلوه ناسمو دستورونو د غاړه ایښودلو څخه ډډه کوي. په دې برخه کې ښودل کیږي چې څنګه بې پلوي د عامه ادارو په تیره بیا د دفاعي تاسیساتو د پاره اهمیت لري.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- دا تشریح کول چې څنګه بې پلوي د یوه غوره عامه اداري د سیستم یو اساسي رکن ګڼل کیږي؛
- د یوې بیلګې په ورکولو د بې پلوۍ د مفکورې تشریح کول او داچې بې پلوي څنګه په دفاعي سکتور پورې اړه نیسي.

د زده کړې میتودولوژي / ارزونه

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Brian Head, Alexander Jonathan Brown, Carmel Connors, Promoting Integrity: Evaluating and Improving Public Institutions, Ashgate, ۲۰۰۸.
- Jan Teorell, The Impact of Quality of Government as Impartiality: Theory and Evidence, QoG Working Paper Series, ۲۵ ,۲۰۰۹.
http://qog.pol.gu.se/digitalAssets/۲۵_۲۰۰۹_۱۳۵۰۷۲۱/۱۳۵۰_teorell.pdf

### ٢,١,٩. نهمه برخه: باورتیا او د اټکلیدو وړتیا

**د دې برخې توضیح**

د اټکلیدو وړتیا د اداري دستګاه د فعالیت د څرنګوالي دپاره اهمیت لري. یو شمیر اداري حقوقي اصول او میکانیزمونه د عامه اداري د کړنو او پریکړو د باورتیا او اټکلیدو د وړتیا د هڅولو دپاره کارول کیږي. د اداري قانون ټول نهادونه – اړونده قوانین، د پریکړې دنیولو لړۍ، حقوقي علاجونه، قانوني کنټرول، د شکایاتو مراجع – په دې سبب منځته راغلي دي چې د اټکلیدو د وړتیا یا د اتباعو د کارونو د رسیدګی په باب د هغو د ثابتو تمو د لرلو د ظرفیت کچه لوړه کړي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د باورتیا او اټکلیدو د وړتیا په مفکورې پوهیدل او داچې دا مفکوره د قانون د واکمنۍ سره څنګه تړلې ده؛
- په دې پوهیدل چې څنګه د قانون واکمني لزوماً د اداري صلاحیت سره مخالفت نلري؛
- په دې پوهیدل چې د تناسب اصل څنګه د باورتیا او اټکلیدو د وړتیا په ګټه عمل کوي.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

مأخذونه


- Stephanie Lindquist, Frank Cross, Stability, Predictability and the Rule of Law: State Decisions as Reciprocity Norm, University of Texas School of Law, ٢٠٠٨. https://law.utexas.edu/conferences/measuring/The٢٠٪Papers/Rule٢٠٪of٢٠٪Law٢٠٪Conference.crosslindquist.pdf


### ٢,١,١٠. لسمه برخه: د صداقت جوړونې په نسبت ستراتیژیک چلند

**د دې برخې توضیح**

د صداقت جوړونې د پاره یو ستراتیژیک چلند د دولتي سکتور د پرسونل تر منځ لوړ اخلاق او همدارزا د لوړې کچې شفافیت او حساب ورکونه غواړي. د دې لپاره چې د بالقوه مجرمانو مخه ونیول شي، مهمه ده چې د فاسد چلند تصوري انعامونه لږ کړو (د حاشیوي ګټو کمول) او د هغو افرادو حاشیوي لګښتونه زیات کړو چې کیدای شي په داسې کړنو کې د ښکیلتیا فکر ولري.

د صداقت د تامینولو یو هراړخیز پروګرام ته اړتیا د دې غوښتنه کوي چې داسې اجزاوې/دندې رابرسیره شي او باید منځته راشي کومې چې یو سیستم ته د صداقت جوړونې توان وربښي، لکه په هیوادونو او د دوی ترمنځ کلتوري توپیرونه، د اخلاقو/معیارونو اجزاوې (په تیره بیا په پوځ کې)، د یوې اداري په بیلابیلو پوړونو کې د کنټرول میکانیزمونه (چې د ممکن بدچلند لومړۍ نښې بربندوي)، په هر پوړ کې د کنټرول بدلیدونکې کچې، د مخنیوونکي اقدامونو د کولو وړتیا، د کشف د اقداموno د کولو وړتیا، او د فاسدو کسانو د کړنو د کشف په صورت کې د عدلي تعقیب او ترمیم د کولو وړتیا (صداقت، شفافیت او حساب ورکونه).

د دې برخې موخه داده چې د ستراتیژیک چلند د اهمیت په باب د پوهاوي کچه لوړه کړي او دفاعي پرسونل ته دومره پوهه ورکړي چې دوی وکولای شي هغه په عمل کې پلی کړي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- په دفاعي سکتور کې د صداقت جوړونې د یوه ستراتیژیک چلند په مفکورې پوهیدل؛
- په دفاعي سکتور کې د صداقت جوړونې د یوه ستراتیژیک چلند د اجزاوو او دندو برسیره کول او تحلیول؛
- په دفاعي سکتور کې د صداقت جوړونې په موخه د سیستمونو په چلندونو کې د سمو او ناسمو کړنو د مثالونو راپیژندل (توانونه، کمزورتیاوې، فرصتونه او ننګونې).

د زده کړې میتودولوژي / ارزونه

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Ingrid Busterud, Stefanie O./ Nijssen, Integrity Action Plan – A Handbook for Practitioners in Defence Establishments, Centre for Integrity in the Defence Sector and Transparency International UK Defence and Security Programme, ٢٠١٤.
- Mark Pyman, Anne-Christine Wegener, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: ٢٠ Practical Reforms, Transparency International Defence and Security Programme, ٢٠١١.
- Susan Pond, Mark Pyman, Integrity Self-Assessment Process: A Diagnostic Tool for National Defence Establishments, Transparency International, ٢٠٠٩.
- Todor Tagarev, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: A Compendium of Best Practices, NATO/DCAF, ٢٠١٠.
- Valeri Ratchev, Civilianisation of the Defence Ministry: A Functional Approach to a Modern Defence Institution, DCAF, ٢٠١١.

## ۲،۲. دوهم فصل: د عامه نهادونو فعالیت

**د دې فصل توضیح**

عامه نهادونه د صداقت جوړونې په هر پروګرام کې یوه مهمه دنده لري. د دې فصل موخه داده چې د صداقت او ښې حکومتولۍ په اړه د دولتي څواکونو د ویش د پوهیدلو په موخه زده کوونکو ته اړینه پوهه ولېږدوي او د دولتي ادارو د اړونده رولونو د پیژندل شویو نړیوالو تعریفونو او د هغو د متقابلو کړنو په اړه یو تحلیل وړاندې کړي. د دولتي دریو څانګو په هره څانګه باندې به په مفصله توګه غور وشي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د پارلماني، اجرائیه او قضائیه څواکونو په دندو او مسئولیتونو باندې پوهیدل؛
- دا حقیقت توضیح کول چې د وسله والو او امنیتي څواکونو دموکراټیک ملکي کنټرول د ښې حکومتولۍ د لړۍ یوه برخه ده؛
- په دې پوهیدل چې د ښې حکومتولۍ او عامه اداري ترڅنګ، د دولتي څواکونو ویش څنګه په دفاعي تاسیساتو کې د صداقت دپاره یو چوکاټ برابروي.

**هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي**

- څنګه بیلابیل رولونه او مسئولیتونه د ګټو د تنازع سبب ګرځیدلای شي؟
- څنګه سیاسی تعلقات او سیاسی رولونه د بیلابیلو دولتي څانګو په ترکیب باندې اغیزه کولای شي؟

**مأخذونه**

- SMEs will work with host country to select appropriate references for each mini-module or lecture/session.

### ۱،۲،۲. لومړۍ برخه: اجرائیه څانګه

د دې برخې توضیح

د دولت په بیلابیلو څانګو باندې د څواک ویش د څواکونو د ویش دمفکورې مرکزي برخه ده. اجرائیه څانګه د دولت هغه برخه ده چې د دولت د ورځنۍ اداري، د قانون د اجرا یا تطبیق واک او مسئولیت په غاړه لري. اجرائیه څواک همداراز مقررات صادروي او د حکومتي ادارو دپاره اخلاقي لوړ معیارونه ټاکي او وسله وال څواکونه رهبري کوي. د لړیو، نهادونو، تګلارو او لوبغاړو (په تیره بیا عمده چارواکو) صداقت باید د دولت په دغه څانګه کې تضمین شي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د اجرائیه څانګې په دندو، مسئولیتونو، حقوقي او اخلاقي معیارونو باندې پوهیدل؛
- دا روښانه کول چې څنګه اجرائیه څانګه د عامه اداري د سیستم په وړاندې مسئولیت لرې؛
- د وسله څواکونو په اړه د اجرائیه څانګې په رول او د وسله والو او امنیتي څواکونو په ملکي کنټرول باندې د صداقت د نورمونو او تګلارو له پلوه پوهیدل.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبري اترې، غړګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

مأخذونه

- Joel Aberbach, Mark Peterson, The Executive Branch, Oxford University Press, ۲۰۰۵.

## ۲,۲,۲. دوهمه برخه: مقننه څانګه

**د دې برخې توضيح**

مقننه څواک د دولت د قانون جوړولو څانګه ده چې د دې واک لري چې دولتي تګلاره نافذه، تعديل يا لغو کړي. قانون جوړونکي په حکومتي کړنو باندې څارنه او نظارت کوي او ډير وختونه په دې بهير کې بوازينۍ واک لري چې ښکليه بودجه يا بودجې تعديل کړي. دفاعي سکتور د يوې اغيزمنې څارنې دپاره ننګوونکئ دی ځکه د پارلمان غړي بايد د حساب ورکونې د غوښتنې خپل مسئوليت د محرميت د يوې معينې کچې د اړتيا سره انډول کړي. خو په دفاعي سکتور کې تقنيني بهير تر هغه ځايه پورې چې امکان ولري بايد د ملکي ډګر د تقنيني بهير سره ورته وي. پارلمانونه بايد همدارنګه تامين کړي چې دفاعي تاسيسات د دولت په ګټه او د دولت د اساسي قانون او تګلارو سره سم عمل کوی او په خپل کار کې قانونيت، مشروعيت او صداقت برابروي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د مقننه څانګې په دندو، مسئوليتونو او حقوقي او اخلاقي معيارونو باندې پوهيدل؛
- د دفاعی سکتور او د ملي امنيت د موضوعګانو په مديريت، کنټرول او حساب ورکونې کې د مقننه څانګې په رول باندې پوهيدل؛
- دا توضيح کول چې څنګه د پارلمان غړي د عامه حساب ورکونې او د دفاعي او امنيتي سکتور د محرميت تر منځ مناسب انډول ټاکي او د پوځ د ملکي اداري اصل ساتي په داسې حال کې چې حقوقي او اخلاقي لوړه کچه مراعات کوي.

**د زده کړې ميتودولوژي / ارزونه**

- په تدريس کې به لکچرونه، د قضيو څيړنې، د عمومي او ډله ايزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرينونه شامل وي.

مأخذونه


- Karre Strom, Rules, reasons and routines: Legislative roles in parliamentary democracies, The Journal of Legislative Studies ۳, Issue ۱۹۹۷ ,۱.
- Thomas Saalfeld, Wolfgang Muller, Roles in legislative studies: A theoretical introduction, The Journal of Legislative Studies, ۳, Issue ۱.


## ۲,۲,۳. دريمه برخه: قضائيه څانګه

**د دې برخې توضيح**

قضائيه څانګه د قضايي تعقيب او محکمو سيستم دئ چې قانون تفسير او کاروي. قضا همدارنګه د شخړو د حل د پاره يو ميکانيزم برابروي او د اداري کړنو قانونيت کنټرولوي. د څواکونو د ويش د اصل پر بنسټ، قضا عموماً قانون نه جوړوي يا هغه نه اجرا کوي، بلکه قانون تفسيروي او د هرې قضيې پر حقايقو باندې يې کاروي. يو شمير دولتونه د خپلو وسله والو څواکونو د غړو د چلند د تنظيمولو په موخه جلا قوانين لري او د نومړو قوانينو د تطبيق لپاره اغلباً ځانګړي قضايي ترتيبات کاروي. يوه خپلواکه او اغيزمنه قضا بايد د دفاعي تاسيساتو په شمول د دولتي ادارو او چارواکو حساب ورکونه او قانوني مسئوليت تامين کړي. د هغو لوړپوړو چارواکو عادلانه او اغيزمنه سزاورکونه چې په غيرقانوني او غيراخلاقي کړنو کې ښکيل دي په دولتي او دفاعي نهادونو باندې د خلکو د باور دپاره ډير زيات ارزښت لري.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د قضائيه څانګې په دندو، په تيره بيا په دفاعي سکتور کې، پوهيدل؛
- دا توضيح کول چې د لوړو حقوقي او اخلاقي معيارونو پر بنسټ قضا په وسله والو څواکونو کې د شکايت يوې قضيې ته څنګه بايد رسيدګي وکړي؛
- د اجرائيه څانګې او عامه اداري، په تيره بيا د پوځ، په اجراآتو کې د قانون د واکمنۍ او صداقت د تامينولو دپاره د اداري عدلي سيستم په رول باندې پوهيدل.

**د زده کړې ميتودولوژي / ارزونه**

- په تدريس کې به لکچرونه، د قضيو څيړنې، د عمومي او ډله ايزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرينونه شامل وي.

مأخذونه


- Fabio Padovano, Grazia Sgarra, Fiorino, N. Judicial Branch, Checks and Balances and Political Accountability, Constitutional Political Economy, ٤٧-١٤ ,٢٠٠٣.

## ۲،۳.   دریم فصل: چیک او بیلانس

**د دې فصل توضیح**

چیکونه او بیلانسونه د داسې سیستمونه په جوړولو کې ډېر اهمیت لري کوم چې صداقت هڅوي. په دې فصل کې ملکي-پوځي اړیکې، پارلماني څارنه او نظارت، قضایي کنټرول، د رسنیو رول، او د مدني ټولنو د سازمانونو او د اداري فساد ضد ځانګړو ارګانونو سره اړیکې د موجوده چیکونو او بیلانسونو د تامین د بالقوه وسیلو په توګه څېړل کیږي. د دغو مسئلو څېړل په دفاعي سکتور کې په صداقت باندې د هغو د اغیزې د لازیات پوهیدلو امکان برابروي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- په دې باندې پوهیدل چې څنګه پارلماني او قضایي څارنه په دفاعي سکتور کې کارول کیږي؛
- د مدني ټولنې او رسنیو په اړیکو او رولونو باندې د نهادي عواملو په حیث پوهیدل چې کیدای شي د صداقت په ټینګښت کې وکارول شي؛
- د دې خبرې توضیح کول چې د اداري فساد ضد ځانګړي ارګانونه څنګه نوښتونه کاروي او د دفاعي تاسیساتو سره د صداقت په جوړونه کې همکاري کوي.

هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیول شي

- ستاسو هیواد د چیکونو او بیلانسونو او د اداري فساد ضد چارو په اړه د مدني ټولنې او رسنیو سره د کار کولو په لاره کې د کومو ستونزو سره مخامخ دئ؟
- ترټولو مهم اړمونه چې د پارلمان له خوا د څارنې په توګه د دفاعي سکتور لپاره کارول کیږي کوم دي؟
- ستاسو په هیواد کې د مدنې ټولنې او پوځ تر منځ اړیکې کومې دي؟
- په دفاعي او امنیتي سکتور کې د اداري فساد او حکومتولۍ د موضوعګانو په باب پر سیاسي ګډون او عام بحث باندې میډیا څومره اغیزه کوي؟

**د زده کړې میتودولوژی**

- د زده کړې میتودولوژي به شپږ برخې ولري چې په هره برخه کې د څارنې یو میکانیزم تشریح کیږي.

## ۲،۳،۱.   لومړۍ برخه: ملکي-پوځی اړیکې

**د دې برخې توضیح**

دا برخه د ټولې مدني ټولنې او د پوځي سازمان یا سازمانونو ترمنځ اړیکه چې د دې ټولنې د ساتنې په موخه جوړشوي دي، تشریح کوي او ځرګندوي چې څنګه دغه اړیکه کیدای شي د صداقت جوړونې په بهیر کې د مرستې په توګه وکارول شي. په ځانګړې توګه په دې برخه کې د یوې ټولنې د ملکي او پوځي مقامونو تر منځ د صداقت جوړونې د موضوعګانو په اړه اړیکه توضیح کیږي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- په صداقت جوړونه کې د ملکي-پوځي اړیکو او همکارۍ په مفکورې باندې پوهیدل؛
- د صداقت جوړونې په ډګر کې د ملکي-پوځي اړیکو د ټینګولو په میکانیزمونو باندې پوهیدل؛
- په پرمختللو دموکراتیکو هیوادونو کې د صداقت جوړونې په ډګر کې د ملکي-پوځي اړیکو د تیورۍ په پلې کولو پوهیدل.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څېړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


Samuel P. Huntington, The Soldier and the State, The Theory and Politics of Civil-Military Relations, Harward University Press, ۱۹۸۱.

- Thomas C. Bruneau, Florina Cristiana Matei, The Routledge Handbook of Civil-Military Relations, Routledge, ۲۰۱۳.

## ۲،۳،۲. دوهمه برخه: په دفاعي سکتور کې د صداقت پارلماني څارنه

**د دې برخې توضیح**

پارلماني عمل په دفاعي سکتور کې د بودجې د بهیر له لارې، د پیسو د لګولو د څارنې د میکانیزمونو له لارې، او د دفاعی سکتور څخه د هغو پروګرامونو د پلې کولو د حساب ورکونې د غوښتلو له لارې په صداقت باندې اغیزه کوي کوم چې د مقننه څواک له خوا تائید شوي دي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د پروګرامونو د وړاندې کولو او تمویلولو په بهیر کې د مقننه څواک او دفاعي سکتور تر منځ په متقابل عمل پوهیدل؛
- په بیلابیلو هغو وسیلو باندې پوهیدل چې پارلمان د هغو له لارې په دفاعي سکتور باندې څارنه او نظارت کوي لکه د دفاعي پروګرام د لګښت د وضعیت او اغیزمنتیا په باب پارلماني کمیټو ته ریپوټونه، عمومي څارونکو یا د پلټنې دفترونو ته د هراړخیزې څیړنې په موخه د مسئلو لیږنې، د تمویل شویو پروګرامونو د پلې کولو په باب د دوامدارو خبرواترو هڅونه؛
- د دولت د پارلماني څانګې په اهمیت او د دفاعي ماموریت د تعریفولو او لارښوونې په موخه د اجرائیه څواک سره د هغه په متقابل عمل باندې پوهیدل.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Ceranic J, Parliamentary Oversight of the Defence Sector, in Alexandra Rabrenovic, Legal Mechanisms for Prevention of Corruption in Southeast Europe with Special Focus on the Defence Sector, Institute of Comparative Law, ۲۰۱۳.
- Hans Born, Philippe Fluri, Anders Johnson, Parliamentary Oversight of the Security Sector: Principles Mechanisms and Practices, Handbook for Parliamentarians, Nr. ٥, Inter-Parliamentary Union and Geneva Centre for the Democratic Control of Armed Forces, ۲۰۰۲.
- Hans Born, Philippe Fluri, Simon Lunn, Oversight and Guidance: The Relevance of Parliamentary Oversight for the Security Sector, DCAF, ۲۰۱۰
- Katarina Djokic, Vladimir Erceg, Parliamentary Oversight and Integrity Building in Security Institutions, BCSP, ۲۰۱٤.
- Simon Lunn S, The Democratic Control of Armed Forces in Principle and Practice, DCAF working paper, ۲۰۰۲.
- Willem F. van Eekelen, Democratic Control of Armed Forces, DCAF, No. ۲۰۰۲ ,۲.


## ۲،۳،۳. دریمه برخه: په دفاعي سکتور کې د صداقت قضائي کنترول

**د دې برخې توضیح**

د دولت قضایي څانګه تامینوي چې د دفاعي سکتور د پراګرامونو عملیات، که چیرې محکمې ته د قضاوت لپاره وغوښتل شي، د صداقت د معیارونو په شمول د نافذه قوانینو او مقرراتو سره سم وي. قضا د دې مسئولیت لري چې آیا محکمې ته سپارل شوې قضیې چې د دفاعي سکتور پرسونل پکې ښکیل وي د دې ښکارندوی دي چې د قانون د سرغړونې ارتکاب صورت موندلی دی، او که چیرې مدافع مجرم ثابت شي هغه ته سزا ورکړي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د شکایتونو په منلو او رسیدګی کې په قضایي مراحلو پوهیدل؛
- د قوانینو، مقرراتو او تیرشویو قضایایو د حکمونو پر بنسټ، چې په دفاعي سکتور کې د پرسونل د کړنو په اړه کارول کیږي، د قضایې څانګې د حقوقي معیارونو په تفسیرولو پوهیدل؛
- د قضایې مورد د پریکړو او د دې یا ورته مسئلو په اړه د هغو متعاقبو اقدامونو ترمنځ په اړیکې باندې پوهیدل چې د پریکړو په ځواب کې د قضائیه یا اجرائیه څانګې له خوا ترسره کیږي.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- John McDaniel, The Availability and Scope of Judicial Review of Discretionary Military Administrative Decisions, Military Legal Review, Vol. ۱۹۸٥ ,۸۹.
- Gerri Rubin, United Kingdom Military Law: Autonomy, Civilianisation, Juridification, The Modern Law Review, Vol. ٦٥, No. ۲۰۰۲ ,۱.

## ٢,٣,٤. څلورمه برخه: رسنۍ او میډیا

**د دې برخې توضیح**

د رسنیو سازمانونه عموماً په دموکراسیو کې یو مهم رول لوبوي، خو د دوی اغیزه او مؤثریت د هیوادونو تر منځ توپیر لري. د دې یو مثال هم دادئ چې په هغو هیوادونو کې چې میډیا په ډېره زیاته کچه آزادي لري د سیاسي ګډون لوړې کچې او لږ اداري فساد لیدل کیږي. رسنۍ کولای شي په دفاعي سکتور کې یو مهم نظارتي رول ولوبوي او د اداري فساد په بربنډولو کې کیدای شي مرستندوی وي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د میډیا او ښې حکومتولۍ ترمنځ په اړیکې باندې پوهیدل؛
- د میډیا د پریکړو او په دفاعي سکتور کې د صداقت جوړونې پر بهیر باندې د دولت، سیاسي او سوداګریزو ارکانونو د نفوذ تر منځ د اړیکې توضیح کول؛
- په دې پوښتنې باندې بحث کول چې څنګه او ولې میډیا په دفاعي سکتور کې د صداقت جوړونې په ډګر کې یوه مهمه لوبغاړې ده؟

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Peters, B., The media's role: covering or covering up corruption?, Global Corruption Report, Ch. ٦, Transparency International, ٢٠٠٣.
- Rafael Di Tella, Ignacio Franceschelli, Government Advertising and Media Coverage of Corruption Scandals, American Economic Journal: Applied Economics ٢٠١١ ,(٤)٣.


## ٢,٣,٥. پنځمه برخه: د مدنۍ ټولنې سازمانونه

**د دې برخې توضیح**

مدنې ټولنه د ملګرو ملتونو له خوا، د دولت او خصوصي سکتور تر څنګ د ټولنې د «دریم سکتور» په توګه تعریف شوې ده چې په هغې کې د مدنې ټولنې سازمانونه او غیرحکومتي سازمانونه شامل دي. دا حقیقت عموماً منل شوی دئ چې د پراختیایي نیمګړتیاوو په رفع کولو کې واقعي پرمختګ یوازې د ښې حکومتولۍ د نهادونو د جوړولو (لکه حقوقي او مالي سیستمونه) او د مدنې ټولنې د واقعي ګډون د تامین له لارې په لاس راتلای شي. صداقت جوړونه د یوه لاپراخه مفکورې په توګه د ښې حکومتولۍ یوه برخه جوړوي چې د دفاعي تاسیساتو په شمول د دولتي نهادونو د مسؤلانه کار د تامینولو دپاره ضروري ده. د مدنې ټولنې سازمانونه کولای شي په دولتي او دفاعي نهادونو کې د اخلاقي معیارونو د ساتلو او د صداقت د پرله پسې سمون په شمول د لاډېر شفافه او مسؤلانه کار په منځته راوړلو کې بنسټیزه ونډه واخلي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- د دې خبرې توضیح کول چې څنګه د مدنې ټولنې فعالان د امنیتي او دفاعي سکتور په حکومتولۍ کې یوه مهمه ونډه واخلي؛
- د دې خبرې توضیح کول چې څنګه د مدنې ټولنې سازمانونه کولای شي د دې کار په تامینولو کې مرسته وکړي چې لوړ حقوقي او اخلاقي معیارونه (د دفاعي تاسیساتو په شمول) په دولتي نهادونو کې پلې کیږي او په پرله پسې توګه سمون مومي.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- ADB/OECD Anti-Corruption Initiative in Asia and the Pacific, The role of civil society in curbing corruption in public procurement in Fighting Bribery in Public Procurement in Asia and the Pacific, Ch. ٢٠٠٨ ,٦.
- Alina Mungiu-Pippidi, The Experience of Civil Society as an Anti-Corruption Actor in East Central Europe, Civil Society Against Corruption, ٢٠١٤.

## ۲،۳،۶. شپږمه برخه: (د نړیوالو سازمانونو په شمول) د فساد سره د مبارزې ځانګړي سازمانونه

**د دې برخې توضیح**

په پراخه توګه عقیده پر دې ده چې هم په ټول دولتي سکتور کې او هم په دفاعي تاسیساتو کې د اداري فساد سره د اغیزمنې مبارزې په موخه د اداري فساد ضد خاصو ارګانونو جوړول د ترټولو مهمو نوښتونو څخه یو نوښت دی. خو تجربه ښودلې ده چې د اداري فساد ضد ادارو اغیزمنتیا د هیوادونو ترمنځ زیات توپیر لري. په عمل کې ثابته شوې ده چې د فساد ضد توان لرونکي اداري باید ښه منابع، پیاوړی، صادق او ژمن مشرتوب ولري او د دولتي او غیردولتي لوبغاړو د یوې شبکې په منځ کې موقعیت ولري چې یو له بله سره یوځای کارکوي تر څو د اداري فساد ضد مداخلې پلی کړي. له بلې خوا، د فساد ضد ډیرې کمزورې اداري اغلباً د کمزورې سیاسي ارادې او محدودو منابعو او کارکوونکو د ظرفیت له امله کمزورې کیږي.

**د دې برخې د زده کړې موخې**

- په دفاعي سکتور کې (د خطر د ارزولو په بهیر کې) د اداري فساد ضد عمده ارګانونه راپیژندل او په دې پوهیدل چې دغه ارګانونه څنګه د اداري فساد د مخنیوي په لاره کې مرسته کولای شي؛
- د دې پوښتنې توضیح کول چې ولې د اداري فساد ضد یو شمیر ارګانونه بریالي دي او نور نه دي؛
- په وسله والو ځواکونو او دفاعي تاسیساتو کې د اداري فساد ضد ارګانونو د بریالي فعالیت لپاره ځانګړي چاپیریالونه په پام کې نیول او هغه تشریح کول؛
- په دفاعي سیستمونو کې د اداري فساد ضد اغیزمنو ارګانونو لپاره د موجودو وسیلو او سرچینو راپیژندل.

**د زده کړې میتودولوژي / ارزونه**

- په تدریس کې به لکچرونه، د قضیو څیړنې، د عمومي او ډله ایزو ناستو خبرې اترې، غبرګونه ژورنال جوړونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Francisco Cardona, Anti-Corruption Policies and Agencies, Guide to Good Governance ۳, Centre for Integrity in the Defence Sector, Norwegian Ministry of Defence, ۲۰۱۵.
- Eser Albin, Kubiciel Michael, Institutions against Corruption: A Comparative Study of the National Anti-corruption Strategies Reflected, GRECO's First Evaluation Round, ۲۰۰٤.
- Matic M, Specialised Anti-Corruption Agencies in Alexandra Rabrenovic A., Legal Mechanisms for Prevention of Corruption in Southeast Europe with Special Focus on the Defence Sector, Institute of Comparative Law, ۲۰۱۳.
- OECD, Specialised Anticorruption Institutions – Review of Models, OECD publishing, ۲۰۰۸.
- UNDP, Practitioners' Guide: Capacity Assessment of Anti-Corruption Agencies, UNDP publishing, ۲۰۱۱.

# ۳

## په منجمنت او د خدمتونو په برابرولو کې
## د صداقت او رښتینولۍ جوړونه

## ۳. په منجمنت او د خدمتونو په برابرولو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونه

### د موضوع توضیح

دا موضوع زده کوونکو ته په دفاعي او امنیتي سکتورونو کې د منجمنت او برابرولو په بهیر کې د فساد د اصلي احتمالي ګواښونو په اړه یو پوهاوی برابروي. دا موضوع بشري سرچینې ، مالي منجمنت او بودجه بندي، رانیونې او تدارکات، په پرېکړې کولو کې صداقت او رښتینولي او د صداقت او رښتینولۍ د ودې پلانونه تر پوښښ لاندې نیسي .

### د موضوع د زده کړې موخې

- د جندر یا جنسیت د اغېزو په ګډون، د بشري سرچینو د منجمنت نقش د فساد د احتمالي ګواښونو په کمولو کې تشریح کول؛
- د دفاعي پلان جوړونې ، بودجه بندۍ او مالي منجمنت بهیرونو نقش د فساد د احتمالي ګواښونو په کمولو کې تشریح کول؛
- په رانیونو او تدارکاتو کې د فساد احتمالي ګواښونه کمول، ارزښت موندنه یې کول او تشریح کول یې؛
- د صداقت او رښتینولۍ نقش د پرېکړې کولو او د فساد د احتمالي ګواښونو د کمولو په بهیر کې تشریح کول؛
- د دنننې چیک او بیلانسونو نقش فساد ته د پاملرنې په برخه کې تشریح کول.
- پر دې خبرې بحث کول چې څه ډول د صداقت او رښتینولۍ د ملي پروګرامونو طرح او مدیریت ترسره کېدلای شي؟

هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیولې شي

- په دفاعي سکتور کې د صداقت او رښتینولۍ په ودې کې اصلي ونډه لرونکي څوک دي؟
- هغه اصلي مسئلې کومې دي چې د صداقت او رښتینولۍ یو پلان یې باید تر پوښښ لاندې راولي؟
- یو هېواد څه ډول کولای شي چې د خپل صداقت او رښتینولۍ د پلان پرڅای کول وارزوي او کنټرول او تنظیم یې کړي؟
- هېوادونه څه ډول کولای شي صداقت او رښتینولي د خپلې زده کړې او روزنې له پروګرامونو سره یو پارچه کړي؟

### د زده کړې میتودولوژي

ډله ییز کار، بحثونه، لکچر، د وضعې تحلیل او تجزیه، د عملي وظائفو د حل لارو موندل، مرکې، زده شوي لوستونه، د روزونکي روزنه.

### د موضوګانو لښتلیک

۳,۱. لومړی فصل: د بشري سرچینو مدیریت
۳,۱,۱. لومړۍ برخه: د بشري سرچینو ستراتیژي
۳,۱,۲. دوهمه برخه: په بشري سرچینو کې پرېکړه کول
۳,۱,۳. درېیمه برخه: د چارواکو اخلاقي چلند او د افشاګرو ساتنه
۳,۱,٤. څلورمه برخه: جندر یا جنسیت

۳,۲. دوهم فصل: مالي چارې او تدارکات
۳,۲,۱. لومړۍ برخه: دفاعي پلان جوړونه، د بودجې جوړونه او مالي مدیریت
۳,۲,۲. دوهمه برخه: په تدارکاتو کې روڼوالی او د فساد احتمالي ګواښونه
۳,۳. درېیم فصل: په ټولیزو ټګلارو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونې ورګډول
۳,۳,۱. لومړۍ برخه: د پریکړې په کولو کې صداقت او رښتینولي
۳,۳,۲. دوهمه برخه: دننني چیک او بیلانس
۳,۳,۳. درېیمه برخه: د صداقت او رښتینولۍ جوړونې د پروګرامونو طرح او مدیریت کول

## ۳،۱. لومړی فصل: د بشري سرچينو مديريت

### د فصل توضيح

دا فصل حقوقي او مقرراتي چوکاټونو ته، هغو اصولو او معيارونو ته چې د بشري سرچينو د عملي مديريت د ماډل زېربنا جوړوي او کوم چې د بشري سرچينو يو عصري او اغېزمن سيستم په عامه سکتور کې ، د پوځي او امنيتي قواوو په ګډون تنظيموي ، يوه مقدمه برابروي . دغه اصول او معيارونه د عامه چارو کارکوونکو ته د سياسي واک د څورونې او د چاراواکو د نورو موقفونو څخه محافظت برابروي. دا کار کولای شي داسې څرګند ابزار او ميتودونه لکه شغلي معيارونه تر پوښښ لاندې راولي چې پکار ده چې هم د مادونو بشري سرچينو په اړوند د مدير د چلند او هم د بشري سرچينو د مسلکي کارکوونکو د چلند ، د کړنې د قوانينو، اخلاقياتو، د ساتنې د ابزارو او تخنيکونو او داسې نورو ته د لارښودنې په موخه شتون ولري؛ او د ناڅرګندو ميتودونو، لکه د کومو چلند چې د شغلي سابقې د ودې لپاره اړين دي ، او څه چې د مديرانو څخه غوښتل کېږي چې د خپلو مادونانو د مسلکي او شخصي ودې د برابرولو په برخه کې عادلانه او منصفانه اوسي.

### د دې فصل د زده کړې موخې

- د بشري سرچينو ستراتيژي: د دې موجول په برياليتوب د بشپړولو سره به زده کوونکي په دې وتوانېږي چې: منطقي عملي تحليل او تجزيې ترسره کړي، سازماني عيني اړتياوې تعريف کړي، د مکافاتو د يوه غښتلي سيستم په ګډون، کوم چې وکولای شي د فشار په وړاندې مقاومت وښيي، د بشري سرچينو ستراتيژيکي پلان جوړونې عملي کړي؛ او د ملکي پرسونل د حقونو د محافظت لپاره يوه سيستم ته، او د مديرانو او د بشري سرچينو د مسلکي کارکوونکو لپاره د سرچينې د نظر پر اساس شغلي معيارونو ته وده ورکړي؛
- د بشري سرچينو پرېکړې کول: د دې موجول په برياليتوب سره د بشپړولو وروسته به زده کوونکي په دې وتوانېږي چې: په بشري سرچينو کې د مديريت د بهير  چې د بشري سرچينو دمديريت په هرې يوې برخې کې ( لکه د کليدي شاخصونو کارونه) پر احتمالي ګواښونو او د مسئلو پر اساسي لاملونو  ټينګار کوي، په رڼوالي پوه شي .
- د چاروکو اخلاق او چلند او د افشاګرو محافظت: د دې موجول په برياليتوب سره د بشپړولو وروسته به زده کوونکي په دې وتوانېږي چې: د بشري سرچينو د مديريت نقش د اخلاقو او اخلاقي چلند د اړتياوو په ټاکلو کې تعريف کړي؛ د افشاګرو محافظت او د غيرقانوني پېښو د رپوټ ورکولو طرزالعمل؛ د خاصو پوځي مقرراتو او د ساتنې د تدابيرو د اغېز په هکله بحث وکړي؛ په دې پوه شي چې په څه ډول اخلاق او چلند د بشري سرچينو د مديريت د ميکانيزمونو له لارې تنظيم کړي؛
- جندر: د دې موجول په برياليتوب سره د بشپړولو وروسته به زده کوونکي په دې وتوانېږي چې: د بشري سرچينو د مديريت په بهير کې د جندر اړوند احتمالي ګواښونه توضيح کړي؛ د دغو مسئلو د مخنيوي پر ميتودونو او د بنستيز ځواب پر ميکانيزمونه بحث وکړي او وېې ارزوي.

هغه مسئلې چې بايد په پام کې ونيولې شي

- د بشري سرچينو د مديريت اساسي قاعدې، نقشونه او مقررات کوم دي؟
- په دې سيمه کې د فساد اصلي احتمالي ګواښونه کوم دي او موږ کوم ډول شاخصونه کارولای شو چې د دوی شتون او ابعاد کشف کړو؟
- موږ څرنګه کولای شو د بشري سرچينو د يوه اغېزمن مديريت د لاسته راوړلو لپاره د يوې متوازنې او شفافې شېوې د شتون څخه ډاډ تر لاسه کړو؟
- کومې زده کړې ته اړتيا ده چې د بشري سرچينو په برخه کې د بشري سرچينو د کارپوهانو او مديرانو پوهې ته وده ورکړله شي؟
- د چلند د قانون او اخلاقو شېوه څرنګه کولای شي د فساد د احتمالي ګواښونو په کمولو کې د بشري سرچينو د مديريت سره مرسته وکړي؟ په دفاعي او امنيتی سکتورنو کې هغه کليدي اخلاقي قواعد کوم دي چې د کارکوونکو په مديريت کې کارول کېدای شي؟
- موږ څرنګه کولای شو چې د افشاګرو يو محافظتي سيستم جوړ کړو؟
- په بشري سرچينو کې څرنګه صداقت او رښتينولي / فساد د صداقت او رښتينولۍ د جوړولو د نورو نوښتونو سره مرسته کوي/ او يا يې په وړاندې خنډ ګرځي؟

### د زده کړې ميتودولوژي

- د زده کړې ميتودولوژي به د څلورو موجولونو څخه جوړه وي، هر يو به يې د بشري سرچينو په مديريت کې د اړوندو ښه شوي رڼوالی ، حساب ورکونې او صداقت او رښتينولۍ يو اصل او يا معيار پر غاړه واخلي. ډله ييز کار، بحثونه، لکچر، د وضعې تحليل او تجزيه، د عملي وظائفو د حل لاره، مرکه، زده شوي لوستونه.

## ۳،۱،۱.   لومړۍ برخه: د بشري سرچينو ستراتيژي

**د فصل توضيح**

دغه فصل يو اساسي پوهاوی برابروي چې څه ډول په بېلابېلو سطحو کې د بشري سرچينو د سيستم فعاليت تحليل او تجزيه کړای شي. سربېره پر دې، دی به د اړينو مقتضياتو داسې يو پوهاوی برابر کړي چې د زدهکړې د کورسونو له لارې د شايسته سالارۍ / مکافاتو يوه غښتلي سيستم ته وده ورکړي ترڅو وکولای شي د پرسونل د حقونو حفاظت وکړي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د بشري سرچينو د سيستم د فعاليت منطقي تحليل او تجزيه ترسره کول؛
- سازماني اړتياوې د دوه – چنده لرليد له مخه تعريف: د بشري سرچينو د (مشرو) مسلکي کارکوونکو او مديرانو او د کاري پرسونل د انډول او شايستګۍ اړتياوې؛
- د بشري سرچينو په ستراتيژيکي پلان جوړوني پوهېدل چې د شايسته سالارۍ/ مکافاتو د يوه غښتلي سيستم په ګډون، چې د فشار پر وړاندې د سازمان د غوښتنو او اکمالاتي انډول او د انفرادي کار-ژوند توازن په نظر کې لرلو سره چې سيستم او شخصي صداقت او رښتينولي وساتي، مقاومت وکړای شي.
- د هغو تشو تشخيصول ، چې د بشري سرچينو د پلان جوړوني د انګېزې اړوندې پايلې په کچه رامينځته شوې: د کاري قوا طرح ( لکه د پوځي او ملکي کارکوونکو انډول)؛ د سازمان جوړښت او وده (لکه د قوا اندازه او جوړښت، د مرکزيت درجه، د فرعي قرارداديانو څخه استفاده)؛ په کار ګومارنه او غوره کول (لکه د اړتيا وړ مهارت و ازمېښت سره اخښل، د درخواست کوونکو اصلي سرچينې، هغه ميتودونه چې په وجه يې مناسب نوماندان راجلب شي، د په کارګومارلو درول)؛ د کاري قوا تنوع ( لکه برابر فرصتونه، بېلا بېلې زده کړې)؛ تاديه او مکافات (لکه د مالي او غير مالي پلوه ګډ مکافات)؛ د اجرااتو مديريت( لکه د کورنيو لپاره دوستانه تګلارې، د کارکوونکي وده، د کار شرايط)؛ روزنه او وده (لکه د پېژندنې او لارموندنې پروګرامونه، د روزنې پروګرامونه، د انکشاف بياکتنې، زده کړه)؛ د کار اړوندې اړيکې ( لکه ارتباطات، د خپګان لاملونه او د ډسپلين په اړه طرزالعملونه)؛ خوشې کونې ( لکه طبيعي ضايعات، د په کارګومارنې لپاره ملاتړ، د اضافه بستې پروګرامونه)؛
- د يوه يو موټې او د صداقت او رښتينولۍ پر اساس استوار يو څو سيستميزه شېوې اړتيا د کاري سوابقو د مديريت ، جبران او تقاعد لپاره؛
- د پرسونل د حقونو د محافظت په اړه پوهېدل.

د زده کړې ميتودولوژي/ ارزونه

د زده کړې د ميتودولوژۍ/ ارزونې  په تدريس کې به لکچرونه، د موردي قضيو مطالعه، ډله ييز او ټوليز بحثونه، منعکس کوونکي يادداښتونه او عملي تمرينونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Albert A. Robbert, Brent R. Keltner, Kenneth J. Reynolds, Mark D. Spranca, Beth A. Benjamin, Differentiation in Military Human Resource Management, RAND, ۱۹۹۷.
- Anthony Hartle, Moral issues in military decision making, University Press of Kansas, ۱۹۸۹.
- Carol Gill, Use of Hard and Soft Models of HRM to illustrate the gap between Rhetoric and Reality in Workforce, No.WP ۱۳/۹۹, ۱۹۹۹.
- California State Department Of Finance, Strategic Planning Guidelines, ۱۹۹۸. https://www.calhr.ca.gov/Documents/wfp-department-of-finance-strategic-plan-guidelines.pdf
- Elliot Turiel, The development of Social Knowledge: Morality and Convention, Cambridge University Press, ۱۹۸۳.
- Harry Thie, A Future Officer Career Management System: An Objectives-based Design, Rand, ۲۰۰۱.
- Harry J. Thie, Roland J. Yardley, Margaret C. Harrell, Kevin Brancato, Alignment of Department of Defense Manpower, Resources, and Personnel Systems, RAND, ۲۰۰۷.
- Lawrence M. Hinman, Ethics: A pluralistic approach to moral theory. Ft Worth: Harcourt Brace &Co., ۲۰۰٤.
- Michael Armstrong, Strategic Human Resource Management: A guide to action, Kogen Page, Cambridge University Press, ۲۰۰٦.
- NATO HRM Framework.

http://ftp.rta.nato.int/public//PubFullText/RTO/TR/RTO-TR-SAS۰۵۹-///$TR-SAS-۰۵۹-Report.pdf

- Wayne Brockbank, David Ulrich, Mike Ulrich, Jon Younger, HR from the Outside In Six Competencies for the Future of Human Resources, McGraw-Hill, ۲۰۱۲.

http://mams.rmit.edu.au/d٤lhtsmk٤٥c.pdf

## ۳،۱،۲.  دوهمه برخه: په بشري سرچینو کې پریکړه کول

**د فصل توضیح**

دا فصل د هغو شېوو په اړه يو پوهاوی برابروي، د کومو  په وجه چې د بشري سرچينو مسلکي کارکوونکي کولای شي د خپل پرېکړې کولو بهير روڼ کړي.

**د دي فصل د زده کړې موخې**

- په بشري سرچینو کې د مدیریت د بهیر په رڼوالي پوهېدل، کوم چې د بشري سرچینو دمدیریت په هرې یوې برخې کې ( لکه د کلیدي شاخصونو کارونه) پر احتمالي ګواښونو او د مسئلو پر اساسي لاملونو ټینګار کوي؛
- د پرېکړې کولو په مهارتونو پوهېدل، کوم چې د ښه حکومتولۍ پر اصولو ولاړ دي؛
- د بشري سرچینو  د پرېکړې کولو منصفانه او شفافو بهیرونو ته وده ورکول؛
- د ګټو د تضاد په ګډون، د اړتیا وړ بنسټیز وړاندشرطونه څرګندول.

**د زده کړې میتودولوژي/ ارزونه**

- د زده کړې د میتودولوژۍ/ ارزونې په تدریس کې به لکچرونه، د موردي قضیو مطالعه، ډله ییز او ټولیز بحثونه، منعکس کوونکي یاددښتونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- Andras Hugyik, Prevention and combating corruption: for conducting the training course in the educational establishments of the Border Guard and Customs agencies, OSCE, EUBAM, ۲۰۱۳. http://www.antykorupcja.gov.pl/download/۱۳۹۷۱/٤/PreventionandCombatingCorruptionManualMoldawiaNACC.pdf
- Kirsten Edwards, Dr. Martin Edwards, Predictive HR Analytics, Kogan Page, ۲۰۱٦.

Patricia Ward Biederman, James O'Toole, Daniel Goleman, Warren Bennis, Transparency: How Leaders Create a Culture of Candor, Jossey-Bass, ۲۰۰۸.


## ۳،۱،۳.  دریمه برخه: د چاروالو اخلاقي چلند او د افشاګرو ساتنه

**د فصل توضیح**

دا برخه به زده کوونکو ته د اړتیا وړ پوهه ورکړي چې د بشري سرچینو یوه سیستم ته وده ورکړي چې په اخلاقیاتو او اخلاقي چلند کې د تر ټولو ښو عملي کړنو پر بنسټ ولاړ وي. سربېره پر دې، هغه به د افشاګرو د حفاظت او د معلوماتو د مصئون مدیریت مفهوم وروپېژني.

**د دي فصل د زده کړې موخې**

- د بشري سرچینو د مدیریت نقش د اخلاقي چلند د مقتضیاتو په څرګندولو ، د افشاګرو د حفاظت ، او د غیر قانوني پېښو د رپوټ ورکولو په طرزالعملونو کې تعریفول؛
- د ځانګړو پوځي قواعدو او محافظتي تدابیرو د اغېز په هکله بحث کول؛
- د بشري سرچینو په مدیریت کې د مشورتي طرزالعملونو، معلوماتو ته د لاسرسي، د ضوابطو اغېزمنتوب او د عامه حساب ورکوونې پر اهمیت ټینګار کول؛
- په دې پوهېدل چې څرنګه د بشري سرچینو د میکانیزمونو له لارې اخلاقیات او چلند تنظیم کړای شي.

د زده کړې میتودولوژي/ ارزونه

- په تدریس کې به لکچرونه، د موردي قضیو مطالعه، ډله ییز او ټولیز بحثونه، منعکس کوونکي یاددښتونه او عملي تمرینونه شامل وي.

**مأخذونه**


- OECD, Protecting Whistleblowers: Encouraging Reporting, ۲۰۱۲. http://www.oecd.org/cleangovbiz/toolkit/۵۰۰٤۲۹۳۵.pdf

## ۳،۱،٤. څلورمه برخه: جندر یا جنسیت

**د فصل توضیح**

دا فصل به زده کوونکي د بشري سرچينو د مديريت په بهير کې د جندر اړوند فساد د احتمالي ګواښونو په اړه خبر کړي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د بشري سرچينو د مديريت په بهير کې د جندر اړوند احتمالي ګواښونو توضيح کول او پرې پوهېدل؛
- د دغو مسئلو پر وړاندې د مخنيوي او د هغوی د کمېدلو لپاره د بنسټيز ځواب ورکوني ميکانيزمونه ارزول او بحث پرې کول.

د زده کړې میتودولوژي/ ارزونه

- په تدریس کې به لکچرونه، د موردي قضيو مطالعه، ډله ييز او ټوليز بحثونه، منعکس کوونکي يادداښتونه او عملي تمرينونه شامل وي.

مأخذونه


- Kirsten Edwards, Martin Edwards, Predictive HR Analytics, Kogan Page, ۲۰۱٦.
- Max Muller, The Manager's Guide to HR, ۲nd Edition, AMACOM, ۲۰۱۳.
- NATO ACT Gender Training Package.
http://www.act.nato.int/gender-training-documents
- Transparency International, Gender, Inequality and Corruption – What are the linkages?, ۲۰۰٤.
http://files.transparency.org/content/download/۹۲۳۵/۱۰٦۷/file/۲۰۱٤_Policybrief۱_GenderEqualityCorruption_EN.pdf


## ۳،۲. دوهم فصل: مالي چارې او تدارکات

**د فصل توضیح**

دا فصل زده کوونکو ته د دفاعي مالی مديريت او تدارکاتو اصلي اړخونه وروپېژني او د فساد په مخنيوي کې د دغو ساحو پر اهميت ټينګار کوي. مالي چارې او تدارکات هغه دوې ساحې دي چې د فساد پر وړاندې ډېرې زيانمننې دي، نو د فساد د اصلي احتمالي ګواښونو او د هغو ميتودنو چې يې په وړاندې مبارزه کوي ، يو غښتلی پوهاوی ډېر حياتي دی.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- په دفاعي ستراتيژۍ او د عملياتي بودجه بندۍ په بهير ځان پوهول؛
- د بودجې په بهير او د مالي فساد په احتمالي ګواښونو ځان پوهول؛
- د دې خبرې تشريح کول چې څرنګه په دفاعي مالي مديريت کې شفافيت اعظمي او د فساد احتمالي ګواښونه اصغري کړای شي.
- د تدارکاتو د دورې (د غوره کولو، مزايدې، قرارداد، او پرځای کولو احتمالي ګواښونو) په اوږدو کې د رانيونو د احتمالي ګواښونو او د هغوی د مديريت تخمين او تعريف ورکول.
- د ګټو تضاد، جبران، عامه – خصوصي مشارکتونه او د ژوندانه ټول لګښتونه او د فساد د احتمالي ګواښونو سره د هغوی اړيکې تشريح کول او پرې پوهېدل.

**هغه مسئلې چې باید په پام کې ونيولې شي**

- د پروګرامي بودجه بندۍ ښکنې او د فساد احتمالي ګواښونه کوم دي؟
- د دفاع وزارتونه څرنګه مقتضياتو ته لومړيتوب ورکولاشي او د سرچينو تخصيص د هغوی سره په تناسب کې تر سره کولای شي؟
- په تدارکاتو/رانيونو کې د فساد ستر احتمالي ګواښونه کوم دي؟
- د ژوندانه د دورې لګښت په څه ډول د فساد مخنيوی کولای شي؟
- تاسو د تدارکاتو په دوره کې د اغېزمنتيا او شفافيت انډول څرنګه برابرولای شئ؟

**د زده کړې ميتودولوژي**

ډله ييز کار، بحثونه ، لکچر، د وضعې اړوند تحليل او تجزيه ، د د وظائفو د حل عملي لاره، مرکې، زده شوي لوستونه.

### ۳،۲،۱. لومړۍ برخه: دفاعي پلان جوړونه، د بودجې جوړونه او مالي مدیریت

**د فصل توضیح**

دا موجود د دفاعي تګلارې او ستراتیژۍ وده، همدارنګه پلان جوړونه، بودجه بندي او د سرچینو مدیریت تر پوښښ لاندې راولي، کومې چې د اصلي ساحو څخه هغه ساحې دي چې د دفاع په وزارتونو کې ښه شوې شفافیت، حساب ورکووني ، اغېزمنتیا او موثریت ته اړتیا لري. دا فصل به همدارنګه د خالګیاوو په هکله پوهاوی او د احتمالي ګواښونو څخه ډډه کول تر پوښښ لاندې راولي.

د دې فصل د زده کړې موخې

- د بودجه بندۍ په بهیر او د مالي فساد په احتمالي ګواښونو ځان پوهول؛
- د دفاعي تمویلولو په ماډل ، په تېره بیا د ستراتیژیکي پلان جوړونې او عملیاتي بودجه بندۍ تر مینځ د خالیګاوو څخه د ډډه کولو په اهمیت ځان پوهول؛
- پر هغو وسیلو او لارو باندې بحث کول چې شفافیت د دفاعي پرېکړې کولو په بهیر کې ورګډ کړي؛
- د بودجه یې اندېښنو هاخوا، د ټولې دفاعي بودجې په PPBE( پلان جوړونې، پروګرام جوړونې، بودجه بندۍ او تعمیلولو) د دورې په احتمالي ګواښونو ځان پوهول.
- د فساد په احتمالي ګواښونو او د شفافیت په هغو تدابیرو ځان پوهول، کوم چې کېدای شي په بودجه بندۍ کې د هغوی (د فساد د احتمالي ګواښونو) پر وړاندې د مبارزې په موخه ونیول شي.

هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیولې شي

- د پروګرامي بودجه بندۍ د سیستم ستړي اجزاوې کومې دي؟
- د پروګرامي بودجه بندۍ د کارولو ګټې کومې دي؟
- پر سرچینو باندې د پلان جوړونې او بودجه بندۍ د بهیر اغېز کوم دی؟
- د دفاع وزارتونه څرنګه دفاعي لومړیتوبونه تشخیصوي او د دفاعي منابعو سره یې همغاړي کوي؟
- په دفاعي سیستمونو کې پر مالي مدیریتونو د فساد عواقب کوم دي؟

**د زده کړې میتودولوژي**

- ډله ییز کار، بحثونه ، لکچر، د وضعي اړوند تحلیل او تجزیه ، د د وظائفو د حل عملي لاره، مرکې، زده شوې لوستونه.

**مأخذونه**


- Anderson, Douglas J. and Eubanks, Gina, Leveraging COSO across the three lines of defense, The Institute of Internal Auditor, ۲۰۰۵.

http://www.coso.org/documents/COSO۳-۲۰۱۵-LOD-PDF.pdf

- CIDS, Integrity Action Plan - a handbook for practitioners in defence establishments, ۲۰۱٤.

http://cids.no/wp-content/uploads/۱۲/۲۰۱٤/Integrity-Action-Plan-handbook_web.pdf

- DCAF, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: A Compendium of Best Practices, ۲۰۱۰.

http://www.nato.int/nato_static/assets/pdf/pdf_topics/۲۰۱۲۰٦۰۷_BI_Compendium_EN.pd

- Transparency International – Defence and Security Programme, The Transparency of National Defence Budgets, ۲۰۱۱.


### ۳،۲،۲. دوهمه برخه: په تدارکاتو کې روڼوالی او د فساد احتمالي ګواښونه

**د فصل توضیح**

دا فصل به زده کوونکي په دې وتوانوي چې د رانیونو په اصلي عناصرو ( لکه تدارکات، قرارداد ورکوني، د لګښتونو تحلیل او تجزیه، د ژوندانه دورې د لګښتونو د ماډل وده ، عامه خصوصي ترانسپورټ(PPP)، د رانیونې په بهیر کې د فساد ښکېلو احتمالي ګواښونو او په هغو میکانیزمونو چې د هغوی مخنیوی کوي، پوه شي . د فساد د نومول شویو سترو احتمالي ګواښونو سربېره، زده کوونکي به په دې وتوانېږي چې په بېلابېلو سناریو ګانو او تنظیم شویو حالاتو کې د فساد تخمیني کچه معلومه کړي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د تدارکاتو د فساد احتمالي ګواښونه او د هغوی مدیریت( د غوره کولو، مزایدې، قرارداد ورکونو، تعمیلولو احتمالي ګواښونه) تشخیصول او تخمینول؛
- د غوره کولو د احتمالي ګواښونو ارزښت موندنه کول ( د تنظیم شوې سیستم د مقتضیاتو، د ستراتیژکې او عملیاتي پلان جوړونې تر مینځ د خالیګاوو، اصغري مقتضیاتو، او د هغو شیانو د اندازې په ګډون چې باید رانیول شي)؛
- د مزائدې د احتمالي ګواښونو ارزښت موندنه کول ( د ټیټو لګښتونو ګټو تر مینځ، د ژوند د دورې د لګښت، د انفرادي سرچینې او غیر رقابتي بهیر څخه ناوړه ګټه پورته کولو، د مزایده کوونکو او د پر بیو د لاله وړاندې جوړېدلو یو لاس کېدلو، د بیو د اصلي ارزښت واقعي بنه د کیفیت په پرتله، د خصوصي اکمالوونکو یو لاس کېدلو، د ( محرم غوراوي څخه ناوړه ګټه اخیستلو، د ګټه اخیستونکو په هکله د پوره شفافیت څخه ډاډ نه ترلاسه کولو په ګډون)؛
- د قرارداد ورکونې د احتمالي ګواښونو ارزونه کول( د پرسېدلو(ترحد زیاتو) بیو ورکول، د بیې د پوره څرګندولو پرته د فرعي قراردادیانو کارونه، د اکمالوونکو د اجرااتو د توانایۍ په هکله د پوهاوي نشتون لکه د ښو او بدو اکمالوونکو نوملړ، نابشپړ او سرګړووونکي قراردادونه په ګډون چې د اضافي لګښتونو لامل ګرځي)؛
- د تعمیلولو د احتمالي ګواښونو ارزښت موندنه کول ( د لاندینیو په ګډون: د کار کیفیت، د کار زماني کرښې، د کار کمیت، د کنټرول نشتون که چېرې قراردادیان د قرارداد څخه د دغو د هرې یوې لارې په کارولو سره سرغړونه کوي، د قرارداد بشپړول د ټیټ کیفیت اجرااتو په اړوند)؛
- د بېلابېلو خواوو د تړاو په اړه د ګټو د تضاد ارزښت موندنه کول؛
- په تدارکاتو کې د فساد د احتمالي ګواښونو د کمولو لپاره د بېلابېلو میتودونو توضیح کول او نومونه یې اخیستل؛
- د لزوم لید د واکونو په اړه راپورته شوې ستونزې تشریح کول؛
- د جبران په اړه د فساد د احتمالي ګواښونو تخمین او تعریفول؛
- د عامه خصوصي مشارکت د ښکېلو او ناوړتیاوو / زیانونو ارزښت موندنه کول؛
- د بیې – ګټو تحلیل او تجزیه ترسره کول.

**هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیولې شي**

- د دفاعي لومړیتوبونو په اړوند د تدارکاتو اړتیاوې تر ټولو په ښه ډول څرنګه تعریفېدلای شي؟
- د رانیونو/ تدارکاتو ستر میتودونه کوم دي؟
- په دې ساحه کې د فساد احتمالي ګواښونه او عواقب یې کوم دي؟

- د ژوند د دورې د لګښتونو د تعمیلولو ګټې کومې دي.
- د تدارکاتو په دوره کې تاسو څرنګه د سیستم اغېزمنتوب او د سیستم ګټورتوب په شفافه توګه سره پرتله کوئ؟
- تاسو څرنګه د تدارکاتو پلانونه له خپلې ستراتیژیکي پلانجوړونې او د توانمندیو مقتضیاتو سره پرتله کوئ؟

**د زده کړې میتودولوژي**

ډله ییز کار، بحثونه ، لکچر، د وضعې اړوند تحلیل او تجزیه ، د د وظائفو د حل عملي لاره، مرکې، زده شوي لوستونه.

**مأخذونه**


- DCAF, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: A Compendium of Best Practices, ٢٠١٠. http://www.nato.int/nato_static/assets/pdf/pdf_topics/٢٠١٢٠٦٠٧_BI_Compendium_EN.pdf
- Transparency International UK, Anti-bribery due diligence for transactions, ٢٠١٢. https://www.transparency-france.org/wp-content/uploads/٢٠١٢/٠٤/٢٠١٦_-Anti Bribery_Due_Diligence_for_Transactions.pdf
- Transparency International UK, Defence spending: how to reduce corruption risks, ٢٠١٤. http://www.transparency.org/news/feature/defence_spending_how_to_reduce_corruption_risks

## ۳،۳ دریم فصل: په ټولیزو تګلارو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونې ورګډول

**د فصل توضیح**

دا فصل په یوه سازمان کې د صداقت او رښتینولۍ پر یوپارچه کولو ټینګار کوي – له دې سره یې د پرېکړې کولو د بهیر ، د چیک او بیلانس د دننني سیستم، او د صداقت او رښتینولۍ د ملي پروګرامونو د طرح کولو او مدیریت کولو یوه برخه ګرځوي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د پرېکړې کولو په بهیرونو پوهېدل او ارزښت موندنه یې کول چې دوی څرنګه د فساد په وړاندې زیانمن کېدلای شي؟
- د پوهې په کارولو سره وویاست چې څرنګه د پرېکړې کولو بهیرونه کېدلای شي ښه کړای شي تر څو د فساد احتمالي ګواښونه کم کړي؟
- د تفتیش او د تفتیش د عمومي رئیس په ګډون، د کنټرول د دنني تدابیرو په نقشونه ځان پوهول، او دا چې دوی څرنګه کولای شي د فساد احتمالي ګواښونه کم کړي؟
- د صداقت او رښتینولۍ په خپل ځاني پوښتنلیک او د ساري د بیاکتنې په بهیرونو ځان پوهول؛
- د صداقت او رښتینولۍ د عملي کړنې د یوه پلان طرح کول او د ناټو د صداقت او رښتینولۍ په مرسته یې عملي کول.

**هغه مسئلې چې باید په پام کې ونیولې شي**

- د پرېکړې کولو د اغېزمنو او نااغېزمنو میتودولوژیو بېلګې کومې دي؟
- موږ په څه ډول کولای شو په اغېزمنه توګه د پرېکړې کولو د بېلابېلو میتودولوژیو د پایلو ارزښت موندنه او کنټرول او تنظیم تر سره کړو ؟
- د اغېزمن تفتیش او د کنټرول د سیستمونو بنې کومې دي، او دغه سیستمونه څرنګه کولای شي چې په یوه پرله پسې بدلېدلونکي چاپېریال کې خپله اغېزمنتیا وساتي؟
- د هغو هېوادونو څخه چې د خپل ځاني ارزونې پوښتنلیک / د ساري د بیاکتنې تر بهیرونو تېر شوي دي، کوم عمده لوستونه زده کېدای شي؟
- هېوادونه څرنګه کولای شي په اغېزمنه توګه دغه بهیر وکاروي تر څو چې حکومتولي او خپل د دفاعي او امنیتي سکتورونو سرسختي او مقاومت ته ښه والی وروپخښي.

**د زده کړې میتودولوژي**

ډله ییز کار، بحثونه ، لکچر، د وضعې اړوند تحلیل او تجزیه ، د د وظائفو د حل عملي لاره، مرکې، زده شوي لوستونه.

## ٣,٣,١. لومړۍ برخه: د پرېکړې په کولو کې صداقت او رښتينولي

**د فصل توضيح**

د دې موجول موخه داده چې د ميتودولوژۍ او د پرېکړې کولو د بهير په هکله يو پوهاوی برابر کړي او هم دا چه د فساد احتمالي ګواښونه په څه دول د دې بهير په ترڅ کې ځګېږي. زده کوونکي به همدارنګه په دې پوه شي چې په څه ډول تدابيرو ته وده ورکړي تر څو وکولای شي د فساد احتمالي ګواښونو ته رسېدنه وکړي او د تحليل او تجزيې بهير او ښه والی پر غاړه واخلي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د ملي پرېکړو کولو ميتودولوژۍ تشريح کول؛
- په دې وتوانېږئ چې د پرېکړې کولو په بهير کې د فساد د احتمالي ګواښونو ارزښت موندنه وکړئ ( د احتمالي ګواښ په پام سره طرح کول)؛
- د احتمالي ګواښ د مديريت يوې اغېزمنې مېتودولوژۍ ته وده ورکول؛
- ځانګړو ملي تدبيرونو ته وده ورکول چې د فساد احتمالي ګواښونه کم کړئ ؛
- د پرېکړې کولو د بهير لپاره يو کنټرولي او تنظيم کوونکی سيسټم جوړول.

**هغه مسئلې چې دې په پام کې ونيولې شي**

- د پرېکړې کولو د ميتودولوژۍ بېلګې کومې دي؟
- آيا موږ کولای شو چې د بېلابېلو هېوادونو د پرېکړې کولو ميتودولوژۍ يو له بل سره پرتله او توپيرونه يې څرګند کړو؟
- د پرېکړې کولو په بهير کې د فساد احتمالي ګواښونه او پايلې کومې دي؟
- د احتمالي ګواښ د يوې مېتودولوژۍ د پلې کولو ښېګڼې کومې دي؟
- موږ څرنګه کولای شو چې د هر يوه هېواد لپاره ځانګړو تدبيرونو ته وده ورکړو او ارزښت موندنه يې وکړو تر څو چې د فساد احتمالي ګواښونه کم کړو؟
- د پرېکړې کولو د بهير لپاره د يوه کنټرولي او تنظيم کوونکي سيسټم د پلې کولو ښېګڼې کومې دي؟

**د زده کړې ميتودولوژي**

- ډله ييز کار، بحثونه ، لکچر، د وضعې اړوند تحليل او تجزيه ، د د وظائفو د حل عملي لاره، مرکې، زده شوي لوستونه.

مأخذونه


- DCAF, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: A Compendium of Best Practices, ٢٠١٠.
http://www.nato.int/nato_static/assets/pdf/pdf_topics/٢٠١٢٠٦٠٧_BI_Compendium_EN.pdf
- OECD ), Integrity in Public Procurement: good practice from A to Z, ٢٠٠٧. http://www.oecd.org/development/effectiveness/٣٨٥٨٨٩٦٤.pdf
- Transparency International UK, Defence spending: how to reduce corruption risks, ٢٠١٤.
http://www.transparency.org/news/feature/defence_spending_how_to_reduce_corruption_risks


## ٣,٣,٢. دوهمه برخه: د نننې چيک او بيلانس

**د فصل توضيح**

دا برخه زده کوونکو ته د يوه پوهاوي پر برابرولو تاکيد کوي چې د دننني کنټرول او تفتيش تر ټولو اغېزمنو طريقو او تفتيش کوم دی او د رڼوالي او د احتمالي ګواښونو د کمولو لپاره کومو تدبيرونو ته اړتيا ده.

**د دې موجول د زده کړې موخې**

- په دفاعي بنسټونو کې د دنننې کنټرول د تدبيرونو نقش تشريح کول.
- د ا خبره تشريح کول چې ولې د بېلو واکونو او د صلاحيت د کچو درلودل د فساد احتمالي ګواښونه کموي؟
- دا خبره تشريح کړئ چې ولې په بېلابېلو ځانګو کې د بېلو پرېکړو کول د فساد احتمالي ګواښونه کموي؛
- د دنننې کنټرول او د تفتيش د سيستمونو او همدارنګه د بياکتنو د پيلولو د تدابيرو لپاره ضوابط او د فساد د احتمالي ګواښونو شاخصونه فورمول بندي کول:
- د فساد چارو ته په رسېدنه کې د دنننې تفتيش نقش تشريح کول:
- د تفتيش د عمومي رئيس او پخوانيو ارزښتموندنو نقش د فساد په کمولو کې تشريح کول.

**هغه مسئلې چې دې په پام کې ونيولې شي**

- د فساد د احتمالي ګواښونو په کمولو کې د دنننې تفتيش او کنټرول نقشونه کوم دي ؟
- د چيک او بيلانس په تاسيسولو کې اصلي ونډه لرونکي څوک دي؟
- د اغېزمنو دنننی تفتيش او کنټرو ل لپاره اصلي مقتضيات کوم دي؟
- په يوه پرله پسې وده موندونکي چاپېريال کې ، د دنننې چيک او بيلانس د ساتلو تر ټولو ښه لاره کومه ده؟
- د موثرو عملياتونو د اړتياوو او د فساد د مخنيوې لپاره د تنظيم کوونکو فعاليتونو ترمينځ سم انډول کوم دی؟

**د زده کړې ميتودولوژي**

- ډله ييز کار، بحثونه ، لکچر، د وضعې اړوند تحليل او تجزيه ، د د وظائفو د حل عملي لاره، مرکې، زده شوي لوستونه.

مأخذونه


- DCAF, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: A Compendium of Best Practices, ٢٠١٠.
http://www.nato.int/nato_static/assets/pdf/pdf_topics/٢٠١٢٠٦٠٧_BI_Compendium_EN.pd
- Henderson, William T, Anti-corruption internal audits – a crucial element of anti-corruption compliance, Ernst and Young, ٢٠١٠.
http://www.ey.com/Publication/vwLUAssets/EY-FIDS-Anti-corruption-internal-audits/$FILE/EY-FIDS-Anti-corruption-internal-audits.pdf.
- Protiviti Inc, Guide to internal audit, ٢٠٠٩.
http://www.protiviti.com/en-US/Documents/Resource-Guides/Guide_to_Internal_Audit.pdf
- The Institute of Internal Auditors, The audit committee:

internal audit oversight: https://na.theiia.org/about-ia/PublicDocuments/۰۸۷۷۵_QUALITY-AC_BROCHURE_۱_FINAL.pdf.

## ۳،۳،۳. درېيمه برخه: د صداقت او رښتينولۍ جوړونې د پروګرامونو طرح او مديريت کول

**د فصل توضيح**

دا فصل/موجول زده کوونکو ته د ناټو تول بهیر د صداقت او رښتینولۍ د جوړولو لپاره وړېږني. دا فصل د خپل ځاني ارزونې پوښتنليک، د ساري د بياکتنې بهير، د صداقت او رښتينولۍ د عملي کړنې پلان او د ودې پرله پسې تعميلول تر پوښښ لاندې راولي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د خپل ځاني ارزونې پوښتنليک بشپړول او د راتلونکو ګامونو تعريفول؛
- د ساري د بياکتنې د ليدنې کتنې په موخې او بهير پوهېدل؟
- د هېواد لپاره د صداقت او رښتينولۍ د عملي کړنې يوه مناسب پلان ته وده ورکول؛
- د روزنو ، د اړتيا وړ په مناسب ورکشاپونو، سيمينارونو او د موضوع د کارپوهانو په ګډون د ناټو د صداقت او رښتنولۍ جوړولو د مساعدتونو څخه د ګټې اخيستنې / تعميلولو په غوراوي ځان پوهول؛
- د پرمختګ په ارزونه کې د متقابلاً فعالې دورې په اهميت ځان پوهول.

**هغه مسئلې چې دې په پام کې ونيولې شي**

- په دفاعي سکتور کې د صداقت او رښتينولۍ په وده کې اصلي ونډه لرونکي څوک دي، او دوی ته څرنګه قناعت ورکول کېدای شي چې پدې پروګرام ې ګډون ته اړتيا شته؟
- د خپل ځاني ارزونې پوښتنليک ته تاسو د يوه صادقانه او دقيق ځواب د ترلاسه کولو داړ څرنګه حاصلاوی شئ؟
- کومو ګامونو ته اړتيا شته چې داړ تر لاسه شي چې د ساري بياکتنه د هېواد لپاره د منلو وړ ده؟

**د زده کړې ميتودولوژي**

- ډله ييز کار، بحثونه ، لکچر، د وضعي اړوند تحليل او تجزيه ، د د وظائفو د حل عملي لاره، مرکې، زده شوي لوستونه او د روزونکو روزنه.

**مأخذونه**


- CIDS, Integrity Action Plan - a handbook for practitioners in defence establishments, ۲۰۱٤. http://cids.no/wp-content/uploads/۱۲/۲۰۱٤/Integrity-Action-Plan-handbook_web.pdf
- DCAF, Building Integrity and Reducing Corruption in Defence: A Compendium of Best Practices, ۲۰۱۰. http://www.nato.int/nato_static/assets/pdf/pdf_topics/۲۰۱۲۰٦۰۷_BI_Compendium_EN.pdf
- Transparency International UK, Defence spending: how to reduce corruption risks, ۲۰۱٤. http://www.transparency.org/news/feature/defence_spending_how_to_reduce_corruption_risks

# ۴

## عملیاتونه او دفاعي شکیلتیا

## ٤. عملیاتونه او دفاعي ښکېلتیا/ ماموریت

**د فصل توضیح**

دا فصل پر محاربوي عملیاتونو او دفاعي ښکېلتیا باندې د فساد او کمزورې حکومتولۍ پر اغېز ټینګار کوي. هغه همدارنګه د صداقت او رښتینولۍ د جوړولو د اصولو پرځای والی د هېواد څخه بهر عملیاتونو او دفاعي ښکېلتیا سره او همدارنګه د هغې اړتیا په هکله تشریح ورکوي چې د صداقت او رښتینولۍ جوړول دې د ماموریت د یوې برخې په توګه وشمېرل شي. دا به ګډون کوونکي په دې وتوانوي چې په عملیاتونو او دفاعي ظرفیت جوړونې ، او همدارنګه د خپل کار په بېلابېلو اړخونو کې د فساد د مخنیوي او ورسره د مبارزې په د پام وړ اهیمت پوه شي. دا به د عملیاتو په سیمه کې د احتمالي ګواښونو په وړاندې د مبارزې او د مارموریت په پوځیانو کې د فساد احتمالي ګواښونو پر کمولو خپل پام راټول کړي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د محاربوي عملیاتو په ټولو پړاوونو کې د فساد په احتمالي ګواښونو او ننګونو ځان پوهول؛
- په تکتیکي ، عملیاتي او ستراتیژیکه کچه د فساد اغېز تشخیصول او پرې پوهېدل( د بډې اخیستنې، واسطې ، د کښته مخ پر پورته یو پارچه فساد، د جرمي شبکو سروري، د دولت پر پرېکړو د اشخاصو د نفوذ په ګډون)؛
- د فساد خبرتیاوې او شاخصونه تشخیص او ځان پرې پوهول. د فساد د اندازه کولو د ابزارو په کارولو او محدودیتونو ځان پوهول؛
- په هغو لاروچارو ځان پوهول، په کومو کې چې د ماموریت کړنې کولای شي د محاربې د سیمې د چاپېریال سره متقابلاً عمل وکړي تر څو چې فساد لاندې راولي او یا یې کم کړي؛
- د فساد په احتمالي ګواښونو ، لاروچارو،په ډانګ پېیلو، او هغو ننګونو ځان پوهول او تشخیصول یې چې د دفاعي ظرفیت جوړونې پر وړاندې راڅرګندېږي؛
- په عملیاتونو او دفاعي ظرفیت جوړونه کې د فساد د احتمالي ګواښونو د کمولو لارې چارې او د تیارۍ عملي کړنې تشخیص او تطبیقول؛
- تر محاربوي فعالیتونو او دفاعي ظرفیت جوړونې مخکې او په ترځ کې یې هغه نور ښکېل لوبګر تشخیصول او د حکومتولۍ په بېلابېلو کچو کې د فساد په اداره کولو کې د هغوی په نقش ځان پوهول؛
- د ماموریت د بریالیتوب د لاسته راوړلو په موخه پر هغې اغېزمنې پرېکړې کونې ځان پوهول چې د فساد د احتمالي ګواښ او ممکنه اغېز پر بنسټ ولاړه وي؛
- په محاربوي فعالیتونو او دفاعي ظرفیت جوړونې کې هغه تاکتیکونه، عملي کړنې او بهیرونه تطبیقول چې د فساد د احتمالي ګواښونو د کمولو لپاره کارول کېدای شي؛
- په دفاعي ظرفیت جوړونه کې د صداقت او رښتینولۍ په نقش ځان پوهول.

**هغه مسئلې چې دې په پام کې ونیولې شي**

- یو ماموریت څرنګه کولای شي هغه احتمالي ګواښ وارزوي، کوم چې یې فساد د ماموریت د هدفونو او بریاوو پر وړاندې رامنځته کوي؟
- د فساد بېلابېلې په ډانګ پېینې/ څرګندېدنې او لارې چارې څرنګه تشخیصېدلای شي ( د هغو لارو چارو په ګډون چې پکې فساد د جرمي سرورۍ د شبکو ، د طبیعي منابعو څخه په ګټه اخیستنې ، بهرنیو مرستو او داسې نورو سره رانغښتی دی)؟
- د ماموریت فعالیتونه څرنګه کولای شي د محاربوي فعالیت په سیمه کې د فساد مسئلې لانورې زیاتې کړې او تشدید ورکړي؟ هغوی په څه ډول کمېدلای شي؟
- فساد څرنګه د کوربه هېواد د دفاعي او امنیتي قواوو په ګډون د حکومتي بنسټونو پر اغېزمنتوب او مشروعیت نفوذ کولای شي؛
- د ماموریت پرسونل څرنګه کولای شي چې په تر ټولو ښه توګه ځان تیار کړي چې د فساد د مسئلو پر وړاندې مبارزه وکړي؟
- د فساد بېلابېل په ډانګ پېیل/ راڅرګندېدل څرنګه کولای شي د دفاعي ظرفیت پر جوړولو اغېز واچوي؟
- د ظرفیت په جوړولو او دفاعي ښکېلتیا کې د صداقت او رښتینولۍ د جوړولو نقش څه دی؟

**د زده کړې میتودولوژي**

- په تدریس کې به د لکچرونو ، موردي قضیو، ډله ییزو بحثونو او په ټولګي کې دننه عملي تمرینونو یوه روزنیزه بسته شامله وي.

٤,١. لومړی فصل: په پوځي عملیاتو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونه

٤,١,١. لومړۍ برخه: د فساد ډولونه او لارې چارې چې پر پوځي عملیاتو اغیزه اچوي

٤,١,٢. دوهمه برخه: د فساد احتمالي ګواښونه او د ماموریت بریا

٤,١,٣. درېیمه برخه: د پلان جوړونې له لارې د فساد پر وړاندې مبارزه: د ناټو د پلان جوړونې بهیر

٤,١,٤. څلورمه برخه: معیاري عملیاتي کړنلارې: تخنیکونه، عملي کړنې او بهیرونه چې د فساد احتمالي ګواښونه په پوځي ماموریت کې محدودوي

٤,١,٥. پنځمه برخه: د عملیاتو په ترځ کې د اداري فساد سره د مبارزې تخنیکونه، عملي کړنې او بهیرونه

٤,١,٦ شپږمه برخه: د فساد احتمالي ګواښونه د ماموریت په پایښت کې

٤,١,٧. اوومه برخه: د هراړخیزې طریقې له لارې د فساد سره مبارزه

٤,١,٨. اتمه برخه: مشرتوب او اغېزمنه پرېکړه کونه

٤,١,٩. نهمه برخه: د کوربه هېواد د پوځي امنیت او پولیسو قواوو انکشاف

٤,١,١٠.لسمه برخه: په پوځي عملیاتونو کې د فساد ضد او ورسره د مبارزې د مداخلو ارزونه او څارنه

٤,٢. دوهم فصل: دفاعي ښکېلتیا او ظرفیت جوړونه

٤,٢,١. لومړۍ برخه: په دفاعي ښکېلتیا ، د امنیتي ځواک په حمایت ، د پولیسي چارو په ټیکاو او په دفاعي او اړوندې امنیتي ظرفیت جوړونې کې د اداري فساد احتمالي ګواښونه

٤,٢,٢. په دفاعي ښکېلتیا، د امنیتي ځواک په حمایت او دفاعي ظرفیت جوړونې کې د فساد د احتمالي ګواښونو ارزونه او تخفیفول

٤,٢,٣. د صداقت او رښتینولۍ جوړونه، ظرفیت جوړونه: د امنیتي ځواک په حمایت او دفاعي ظرفیت جوړونې کې د صداقت او رښتینولۍ د جوړولو د پروګرامونو عملي کول

٤,٢,٤. د دفاعي ښکېلتیا، امنیتي ځواک حمایت او ظرفیت جوړونې څارنه او ارزښت موندنه

٤,٢,٥. د یوه پایښت وړ څارنې په جوړونې، د فساد ضد او دنننې کنټرول جوړښتونو کې تر ټولو ښې عملي کړنې

## ٤،١. لومړی فصل: په پوځي عملیاتو کې د صداقت او رښتینولۍ جوړونه

**د فصل توضیح**

دا فصل په دې موخه طرح شوی دی چې په محاربوي عملیاتونو کې د صداقت او رښتینولۍ په اړوند یو پوهاوی جوړ کړي ، ترویج یې کړي او پرمختګ ورکړي. هغه همدارنګه پر هغو ګواښونو ټینګار کوي چې فساد یې کولای شي د هغو محاربوي عملیاتونو پر وړاندې مخته کړي ، د کومو موخه داده چې ګډون کوونکي د امنیت، اساسي خدمتونو او د حکومت کولو د جوړښتونو د ټیکاو په ګډون، د ګواښونو په بېلابېلو ډولونو او هغو لاروچارو چې د محاربوي عملیاتونو پر موخې اغېز اچوي ، په پوهاوي مجهز کړي. دا فصل د (مه یې زیانمن کوه) اصل راپېژني چې هغې بېلابېلې لارې چارې ښیي، په کومو کې چې د ماموریت فعالیتونه په غیر عمدي توګه کولای شي فساد ته لانور تشدید وروبخښي. په پای کې ،هغه د ماموریت پر اغېزناک توب او مشروعیت باندې دفساد د اغېز په وړاندې مبارزه کوي.

هدف دا دی چې یو لړ پوځي او د پولیسو غوره شویو افسرانو ته په هغو کړنو او بهیرونو کې روزنه ورکړای شي ، کوم چې دوی په دې توانوي چې د فساد د بېلابېلو ډولونو په وړاندې مبارزه وکړي، کوم چې په تکتیکي ، اوپراتیفي او ستراتیژیکه کچه د پوځي عملیاتو د ماموریت بریالیتوب ته زیان رسوي. د دې فصل موخه همدارنګه دا ده چې د موضوع د اړوندو کارپوهانو سره د ناټو پلان د جوړونې د بهیر د موجول په ګډون د اړوندو کارپوهانو سره همکاري وکړي، د کومو چې هدف دی چې په وجه یې د موضوع کارپوهان د ناټو قواوو ته مرسته زیاته کړي.

**د دې فصل د زده کړې موخې**

- د محاربوي عملیاتو په ټولو پړاوونو کې د فساد په احتمالي ګواښونو او ننګونو ځان پوهول؛
  - په تکتیکي ، اوپراتیفي او ستراتیژیکه کچه محاربوي عملیاتو باندې د فساد د لاروچارو، په ډانګ پېیلو او اغېز تشخیص او ځان پرې پوهول( د بډې اخیستنې، واسطې ، د کښته مخ پر پورته یو پارچه فساد، د جرمي شبکو سروري، د دولت پر پرېکړو د شخصیتونو د نفوذ په ګډون)؛
  - د فساد په شاخصونو او خبرتیاوو ځان پوهول؛
  - د فساد د اندازه کولو په ابزارو ځان پوهول.
- په هغو لارو چارو ځان پوهول، په کومو کې چې د ماموریت کړنې کولای شي د محاربوي فعالیتونو د چاپېریال سره په متقابل فعالیت کې فساد لانور هم ټینګ کړي(د ماموریت د پایښت په ګډون)؛
- هغه تکنیکونه ، عملي کړنې او بهیرونه تشخیصول او ځان پرې پوهول، کوم چې کېدای شي وکارول شي چې د فساد احتمالي ګواښونه کم کړي ، ماموریت ته د تیارۍ او په جبهه کې دننه فعالیتونو په ګډون؛
- د محاربوي عملیاتو په ترڅ کې نور لوبګر او دهغوی نقش د فساد په مخنیوي کې معلومول؛
- په اغېزمنې پرېکړې کولو ځان پوهول، کومه چې په ماموریت کې د بریالیتوب د لاسته راوړلو لپاره د صداقت او رښتینولۍ پر جوړولو باندې ټینګار کوي.

هغه مسئلې چې دې په پام کې ونیولې شي

- ماموریت څرنګه هغه احتمالي ګواښونه ارزولای شي، کوم چې فساد یې د ماموریت موخو او بریاوو ته ورپېښوي؟
- د فساد بېلابېلې څرګندونې او لارې چارې څرنګه تشخیصېدلای شي؟
- د ماموریت فعالیتونه په څه ډول کولای شي د محاربوي فعالیتونو په سیمه کې د فساد مسئلو ته تشدید ورکړي؟ هغوی ته څرنګه تخفیف ورکول کېدای شي.
- فساد څرنګه د حکومت پر بنسټونو نفوذ کولای شي، د دفاعي قواوو په ګډون.

**د زده کړې میتودولوژي**

په دې فصل کې تدریس د موجولونو پر بنسټ ولاړ دی. هر موجول به د پرکتیک کوونکو / علمی کارکوونکو د مقدمه یې لکچرونو څخه جوړ وي ، ورپسې به موردي قضیې او لیکنۍ دندې وي. لیکنۍ دندي همدارنګه تر دې موجول وړاندې بشپړېدلای شي تر څو ګډون کوونکو ته تا موقع ورکړي چې د درسي موادو په لوستلو بوخت شي.

